# أوراد
# أهل السنة والجماعة

## د اهل سنت او جماعت اذكار
## (مسنون اذكار)


**مؤيد عبد الفتاح حمدان**

**ليكنه: مؤيد عبد الفتاح حمدان**

**قدم له الشيخ عثمان الخميس**

**تقريظ: شيخ عثمان الخميس**

**ژباړه:**

**ابوالحسن الكابلي**

# مقدمة

## سريزه

### بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين، والصلاة والسلام على سيد المرسلين، سيدنا محمد، وعلى آله وصحبه ومن تبعه بإحسان إلى يوم الدين، أما بعد:

إن الغاية من هذا الكتاب: أن أقدم لك - أيها المتمسك بالسنة - ورداً صحيحاً ثابتاً، جامعاً، مُبَوَّباً على معاني الأدعية في كتابٍ واحدٍ.

اى په سنتو منگولي لړونكيه! ددي كتاب موخه داده چي:
زه تاته داسي اوراد په يوه كتاب كي وړاندي كړم چي د سند له پلوه ثابت او صحيح، او د معنا له پلوه هراړخيزه او پر بابونو ويشل شوي وي.

إن الغاية من هذا الكتاب: أن أعطي جواباً شافياً عن بعض ما كان يقوله النبي ﷺ حين كان يطيل الدعاء في مواطن الإجابة حتى كان يبلغ أحياناً طول قراءة سورة البقرة، ومن زوال شمس عرفة حتى الغروب، فمن المحال أن تُنسى هذه الدعوات ولا تُروى، وهي من الذكر الذي وعد الله بحفظه، ومن الحكمة التي أُمِرَ بتبليغها.

ددې كتاب موخه داده چې: زه د نبي ﷺ ځینې هغه دعاګاني راټولې کړم چې هغه به د قبولیت په ځایونو کې ډیرې اوږدولې تردې چې کله به د بقرې سورت د لوستلو اندازې ته رسېدلې او کله به د عرفات په ورځ د لمر له زواله نه تر لمر لوېدو پورې وې، نو ناشونې ده چې دا دعاګاني دې هېرې کړل شي او روایت دې نه شي، او دا همغه ذکر دی چې الله يې د ساتنې ژمنه کړې او د هغه حکمت برخه ده چې پر رسونه (تبليغ) يې امر شوی.

إن الغاية من هذا الكتاب: أن أقدم للعابد ولطالب العلم المادة الثابتة الصحيحة التي بها وبمثلها كان علماؤنا يناجون

ربهم سبحانه وتعالى في أورادهم الخاصة، راغبين راهبين، باكين ومتلذذين، مجتهدين ومداومين.

ددې کتاب موخه داده چې: د عبادت کوونکي او طالب علم لپاره داسې په سند ثابت او صحیح مواد وړاندې کړم چې د هغو او هغو ته د ورته (موادو) په مرسته به زموږ علماوو د خپلو ځانګړو اورادو له لارې ډېر په شوق، ویره، ژړا، عاجزۍ، پوره زیار او په پرله پسې توګه له خپل پالونکي (رب) سره مناجات کول.

إن الغاية من هذا الكتاب: إعانتك على إحضار قلبك بين يدي ربك وأنت تدعوه سبحانه وتعالى، فجاءت وسيلة تحقيق ذلك:

ددې کتاب موخه داده چې: ته کله د خپل رب پر وړاندې دعا کوې نو ستا سره ستا د زړه په حضور برابرولو کې مرسته وکړي، نو دې مقصد ته د رسیدلو په موخه:

من خلال تصنيف الأدعية وترتيبها كما كان يرتبها النبي ﷺ في دعائه غالبًا، فأوراد الثناء أولاً، والصلاة عليه ﷺ ثانيًا، والأستغفار ثالثًا، وهكذا;... ومن خلال ما كُتِبَ قبل كل ورد، بلحن الروح، ومداد الصدق فيما سميناه بـ (أيها القلب تهيأ)

ذلك الذي إذا قرأه القارئ لم يملك إلا أن يُحْضِرَ قبله – بإذن الله – مع كلمات الورد العظمية التالية له، فيخرجها من أعماق قلبه، وإن كانت من نظر العين، وترديد اللسان والشفتين.

ددې کتاب دعاګانې په دې ډول ترتيب شوې په کوم ترتيب چې به نبي ﷺ په ډېرى وختونو کې دعا کوله، لومړى د حمد او ستاينې اوراد دي، دويم نبوي درود او دريم د استغفار اوراد او همداسې نور.... له هر ورد مخکې چې څه د زړه له کومې د صداقت رېښتيولى په تورو ليکل شوي هغه مو د (زړه چمتو شه) په نوم نوملي، دا هغه ليکنه ده چې لوستونکى يې کله ولولي که د الله خوښه شي؛ نو هرومرو به د خپل زړه حضور د اورادو هغه سترو دعاګانو ته چمتوکوى(برابروي)کومې چې په دې پسې را رواني دي؛ نو هغه به د زړه له کومې را باسي که څه هم په ظاهره(ښکاره) به په سترګو ورته ګوري، ژبه او شونډې به پرې ښوروي.

ومن خلال كلمات التذكير التي تذكر القارئ بِعِظَمِ الدعوات التي قالها بعد كلِّ ورد، فيما أسميناه بـ (تذكر...)، فتعيد قلبه إليها، حتى يشتفيَ ولن يكتفيَ مهما عاد، فينطلق إلى

الورد الذي بعده بإستعدادٍ إيمانيٍّ أكبر، وعروج أعلى، وهكذا من عروجٍ إلى عروجٍ وربه لم يغبْ عن قلبه.

د يادونې هغه خبرې چې لوستونکي ته به د هغو دعاګانو اهميت ور په يادوي کومې چې ده وويلې، هغه مو د(فكر وكړه...) په نوم ونومولې، دې ته به د هغه زړه بيا بيا را ګرځي، كه هرځومره رجوع ورته وكړي بيا به هم بسنه نه پرې كوي، نو په دې سره به راتلونكي اورادو ته په لويه ايماني جذبه ورځي، او په دې سره به لوړو درجو ته يو په بل پسې پورته كيږي.

## ومما يجدر التنبيه عليه في هذه المقدمة أمور:

## په دې سريزه كې د ځينو خبرو يادونه په كار ده:

**أولا:** أثبتُّ تخريج جميع الأدعية في آخر الكتاب مع ذكر تصحيح علمائنا الأثبات - رحمهم الله- لها.

لومړى: د ټولو دعاګانو د احاديثو تخريج او زمونږ د محققينو علماوو لخوا پر هغې د صحت حكم ددې كتاب په پاى كې راوړو.

**ثانياً:** لا يصدنك عن هذا الخير العظيم استخدام البعض للفظ «الورد» إستخداماً بدعياً، فإن لفظ «الورد» مما شاع استخدامه عند علمائنا.

دويم: دا چې كه د (اورادو) لفظ د ځينو لخوا د بدعت په بڼه كارول كيږي، نو دا دي تا له دي لويې ښېګڼې بې برخې نه كړي، ځكه چې د (اورادو) لفظ يو له هغو (اصطلاحاتو) څخه دى چې زمونږ د علماوو ترمنځ زيات كارول كيږي.

قال شيخ الإسلام ابن تيمية رحمه الله: «وأما محافظة الإنسان على أورادٍ له من الصلاة، أو القراءة، أو الذكر، أو الدعاء طرفي النهار وزُلَفاً من الليل، فهذا سنة رسول الله ﷺ والصالحين من عباد الله قديماً وحديثاً. . .).

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي: «كه يو انسان په ورځ او شپه كې د (نبوي) درود، تلاوت، ذكر او د دعاوو په اورادو پابندي كوي؛ نو دا د رسول الله ﷺ سنت او له پخوا تر دي مهاله د الله د نيكو بندګانو كړنلاره ده....».

**ثالثا:** إن الأساس الذي وُضِعَ من أجله هذا «الورد» هو أن يصبح لكل واحدٍ من أهل السنة والجماعة ورده الصحيح الثابت الذي يردده كل يوم ولا يستطيع فراقه مادام حيّـًا... قال ابن القيم ﷺ: «حَضَرْتُ شيخ الإسلام ابن تيمية مرةً وقد صلى الفجر، ثم جلس يذكر الله تعالى إلى قريب من انتصاف النهار، ثم التفت إليَّ وقال: هذه غدوتي، ولو لم أتغد الغداء سقطت قوتي».

دريم: د كومې موخې (مقصد) لپاره چې دا (اوراد) ترتيب شوي هغه دا چې د اهل سنت او جماعت د هر فرد لپاره له سنتو څخه ثابت او صحيح داسې اوراد وي چې هغه يې هره ورځ تکراروي او ترڅو چې ژوندی وي د هغې پرېښودو ته تيار (چمتو) نشي..... ابن قيم ﷺ فرمايي: يو ځل شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله ته ورغلم چې د سهار لمونځ يې وکړو نو کښيناستو او نيږدې تر نيمې ورځې يې د الله ذکر وکړ، بيا يې زما خواته وکتل او ويې ويل: دا زما سبا ناری دی، که زه دا سبا ناری ونه کړم نو زما (د بدن) قوت به له منځه لاړشي.

ولذلك ينبغي للمسلم أن يحافظ على الدعاء بهذه الأوراد خاصةً:

نو هر مسلمان ته پكار دي چې په دعا كې ددې اورادو پابندي وكړي، په ځانګړې تو ګه (په لاندې ځايونو كې):

- في الحج والعمرة: وذلك عند الطواف بالكعبة، والوقوف بالصفا والمروة، والسعي بينهما، وفي وقفة مزدلفة بعد صلاة الفجر، وبعد رمي الجمرتين الأولى والثانية، وفي أيام التشريق، وفي عشر ذي الحجة.

- په حج او عمره كې: د كعبې د طواف پر مهال، پر صفا او مروه د درېدلو او د دې دواړو تر منځ د سعي كولو پر مهال، او د سهار له لمانځه وروسته په مزدلفه كې د دريدو په وخت، او د لومړۍ او دويمې جمرې له ويشتلو وروسته، او د تشريق په ورځو كې او په لسم د ذوالحجې.

- في رمضان: قبيل الإفطار، وفي الوتر من ليالي العشر.

- د روژې په مياشت كې: مخكې تر روژه ماتي، او په (وروستيو) لسو تاكو شپو كې.

- في جوف الليل: وخاصة ثلثه الأخير.

- په نيمه شپه کې: په ځانګړي ډول د شپې په وروستۍ برخه کې.

- في يوم الجمعة: خصوصاً قبيل المغرب.

- د جمعې په ورځ: په ځانګړې توګه له ماښام څخه لږ وړاندې.

- بين الأذانين، وعند السفر.

- د آذان او اقامت تر منځ، او د سفر پر مهال.

**رابعا:** «ينبغي لمن كان له وظيفةٌ من الذكر في وقتٍ من ليلٍ أو نهارٍ، أو عقيب صلاةٍ، أو حالةٍ من الأحوال ففاته؛ أن يتداركه ويأتي بها إذا تمكن منها، ولا يهملها، فإنه إذا أعتاد الملازمة عليها لم يعرضها للتفويت، وإذا تساهل في قضائها؛ سَهُل عليه تضيعها في وقتها» [الأذكار للنووي، ص ١٩].

څلورم: څوک چې د شپې او ورځې په يو وخت کې، يا له لمانځه وروسته، او يا په يو نه يو حال کې د اذکارو وظيفه لري او هغه ترې پاتې شي، نو چې کله هم بيا وخت پيدا کړي هغه بايد راوګرځوي او پرې يې نږدي، ځکه که پابندي مراعات

کړي نو کله به يې هم له قضا سره مخ نشي او که په قضا کېدو کې يې سستي وکړه نو بيا به يې په خپل وخت پرېښودل هم ورته عادي (آسانه) شي. (د نووي د اذکارو کتاب: ص ١٩)

خامسًا: ليعلم قارئ هذه الأوراد المباركة، أنه قد أمسك بما هو أغلى من الدنيا وما فيها، أغلى من الذهب والفضة والأموال قاطبةً، وأن المجتهدَ في الدعاء لو اجتهدَ بما اجتهد، ولو أطالَ بما أطال، ولو أتى بما أتى من أدعيةٍ مسجوعةٍ وغير مسجوعة من قِبَلِ نفسه أو من قِبَلِ غيره، فإنه لن يأتي بِعُشْرِ معشار ما في هذه الأوراد المباركة، لأن هذه الأوراد ما هي إلا كلام الله سبحانه وتعالى، وكلام رسوله ﷺ الذي هو أعلم الخلق بالله وبمحاب الله...

پنځم: د دې مبارکو اورادو لوستونکی باید په دې پوه شي چې د دنيا او څه چې په دې کې دي تر ټولو ارزښتناکه څه، او له سرو او سپينو او ټولو مالونو څخه هم ارزښتناکه څه يې ترلاسه کړل، او په دې هم بايد پوه شي چې يو دعا کوونکی که هر څومره په دعا غوښتلو کې زيار وباسي، او هر څومره يې اوږده کړي، او که له خپل لوري او يا هم د بل چا لخوا هر څومره، منظمې او غير منظمې

دعا ګاني راوړي، نو ددې مبارکو اورادو د لسمې برخې لسمې ته هم نه رسيږي، ځکه چې دا اوراد د الله او د هغه رسولﷺ له کلام څخه اخيستل شوي څوک چې د الله په مخلوقاتو کې تر ټولو زيات د الله او د هغه د خوښې په چارو پوه دی.

وسيعلم المحافظ على هذه الأوراد عند موته وفي قبره أي خير كان يحافظ عليه، وأي فضل كان بين يديه.

پر دې اورادو پابندي کوونکی به د مرګ پر مهال او په قبر کې هم پوه شي چې ده د خير پر څومره لوی کار پابندي درلوده، او د څومره لوی فضيلت کار يې پر مخ بيولو.

قال شيخ الإسلام رحمه الله: «فالأدعية والأذكار النبوية هي أفضل ما يتحراه المتحري من الذكر والدعاء، وسالكها على سبيل أمانٍ وسلامة، والفوائد التي تحصل بها لا يعبر عنها لسانٌ، ولا يحيط بها إنسانٌ».

وقال ﷺ: «ففي الأدعية الشرعية غاية المطالب الصحيحة، ونهاية المقاصد العلية، ولا يَعْدِلُ عنها إلى غيرها من الأذكار المحدثة المبتدعة إلا جاهلٌ أو مفرطٌ، أو متعدٍ».

شيخ الاسلام ﷺ فرمايي: ځوک چې د ذکر او دعا په لټه کې وي د هغه لپاره نبوي دعاوې او اذکار تر ټولو غوره دي، او د دې اختياروونکی به د امن او سلامتيا لاروی وي،او کومې ګټې چې له دې لارې تر لاسه کيږي د هغې له بيان څخه ژبه عاجزه ده، او نه هم انسان دا (ګټې) معلومولی شي.)

او فرمايي: د شرعي دعاوو له لارې سم مطالب او لوړ مقاصد ترلاسه کيږي، او له دې څخه د نورو نو پيدا او بدعتي اذکارو ته مخ نه اړوي مګر يو ناپوه او له بريده(شرعي حد نه) اوښتونکی او تيری کوونکی.

وقبل الختام أحب أن أبين أن هذا الورد ما هو إلا عبارةٌ عن أدعيةٍ من الكتاب وصحيح السنة، وإنني بجمعي لها بهذه الطريقة أكون قد سرت على طريقة كتاب «الدعاء من الكتاب والسنة» لشيخنا المبارك: سعيد بن علي بن وهف القحطاني - ﷺ - وبتقسيمي الدعاء على هيئة أورادٍ أكون قد سرت على طريقة

كتاب: «مختصر النصيحة في الأذكار والأدعية الصحيحة» لشيخنا الدكتور: محمد إسماعيل المقدم - حفظه الله - لكنني في هذا الكتاب حاولت جاهداً - معترفًا بتقصيري وعجزي - أن أجمع الدعاء من الكتاب والسنة بشكلٍ جامعٍ مُبَوَّبًا على معاني الدعاء، حتى يستحضر القارئ عند كل وردٍ ما الذي يدعو به، وما الذي يريده، فيكون ذلك أجمع لقلبه، وَلِيَسُدَّ حاجة من أراد بابًا معينًا من أبواب الدعاء، كمن أراد أن يستغفر من ذنوبٍ إقترفها، أو أراد أن يَرُدَّ العين عن نفسه ومن يحب، أو عرضت له الديون والهموم، وهكذا...

او له پای ته رسیدو مخکي غواړم چې دا روښانه کړم چې دا اوراد د قرآني او صحیحو نبوي دعاګانو څخه عبارت دي، په کومه لاره چې ما را ټولي کړې دا همغه کړنلاره ده چې زموږ شیخ مبارک سعید بن وهف القحطاني - رحمه الله - په خپل کتاب «الدعاء من الكتاب والسنة» کې اختیار کړې، او که دا دعاوې ما د اورادو په بڼه وېشلي نو هغه کړنلاره مې غوره کړې کومه چې زموږ شیخ دکتور محمد إسماعيل المقدم - حفظه الله - په خپل کتاب «مختصر النصيحة في الأذكار والأدعية الصحيحة» کې

اختيار کړې، مګر ما په دې کتاب کې پوره زيار ايستلی (سره له دې چې زه د خپلې کوتاهۍ او کمزورۍ اعتراف کوم) چې زه له قرآن او احاديثو څخه په جامع (هراړخيز)ډول دعاګانې را ټولې کړم او هغه د معنا له پلوه په بابونو تقسيم کړم، تر څو لوستونکی، د هرې دعا(ورد) پر مهال متوجه شي چې دی کومه دعا وايي، او څه غواړي، نو دا به د ده د زړه حضور ښه برابروي، او تر څو د هغه چا غوښتنه هم پوره شي چې د دعاوو له بابونو څخه کوم ځانګړی باب غواړي، لکه يو څوک غواړي چې د کړو ګناهونو ښښنه وغواړي، او يا هم غواړي چې د سترګو نظر له ځان او يا چا ته يې چې خوښه وي له هغې څخه لرې کړي، او يا هم له پورونو (قرضونو) او پرېشانيو سره مخ دی، او ديته ورته نور....

**وفي الختام** أدعو الله عز وجل أن يجزي عني خير الجزاء كل من ساهم في إخراج هذا الكتاب، وأخص بالذكر منهم:

په پای کې زه له الله غواړم چې زما لخوا د الله هر هغه چاته نيکه بدله ورکړي چاچې د دې کتاب په ترتيبولو کې برخه اخيستې، چې له هغوی څخه د ځينو ځانګړې يادونه کوم:

فضيلة الشيخ الوالد العلامة الدكتور: عبدالله بن عبدالرحمن الجبرين - حفظه الله ورعاه - على تكرمه بسماعه مقدمة هذا الكتاب وبعضٍ من أوراده [حيث أثنى عليه حفظه الله، ونصح بقراءته، وكان ذلك في الرياض يوم الخميس الموافق ١٦/ ٨/ ٢٠٠٧].

محترم شيخ علامه دكتور عبدالله بن عبدالرحمن الجبرين - حفظه الله- چاچې مهرباني وکړه او د دې کتاب سريزه او ځينې اوراد يې په رياض کې د پنجشنبې په ورځ چې د (٢٠٠٧/٨/١٦) نيټې سره سمون خوري واوريدل او د هغې ستاينه يې وکړه، او د هغې د لوستلو سپارښتنه يې وکړه.

وشيخنا الفاضل الحارث - صاحب الغراس - الشيخ توفيق بن خلف الرفاعي - حفظه الله - والذي سطر ببنانه كلماته «التهيئة والتذكير وأجزاء من المقدمة»، وكان دائم التشجيع والحث والتصحيح والتنبيه، فكان في الحقيقة هو صاحب الغراس، فكم بذل من وقته وماله وجهده من أجل هذا

الكتاب، فجزاه الله خير الجزاء، وأعطاه مبتغاه وفوق مبتغاه. اللهم آمين.

د قدر وړ شیخ توفيق بن خلف الرفاعي - حفظه الله -

چاچې په خپلو ګوتو خپلې خبرې (چمتووالی، يادونې، او د سریزې ځینې برخې) ولیکلې، او په پرله پسې توګه به یې په تشويق، هڅونه، ډاډ، د کتاب په سمون او يادونو هم نازولم، چې په حقیقت کې د دې کتاب کرونکی (پیلوونکی) همدی دی چې د دې کتاب لپاره یې خپل وخت، مال او زيار لګولی، نو الله دې دته نیکه بدله ورکړي، او الله دې د ده هیلې پوره او له هغې هم زيات څه ورکړي. آمین

والشيخ الفاضل: عثمان الخميس على تفضله بكتابة تقريظ لهذا الكتاب بعد قراءته، فكان سبباً في نشر الخير للغير، أثابه الله.

محترم شیخ عثمان الخمیس- چاچې د دې کتاب له لوستلو وروسته پرې د تقریظ لیکلو مهرباني وکړه کوم چې نورو ته د دې خیر د خپرولو لامل شو، الله دې دته نیکه بدله ورکړي.

وشيخي العزيز الهمام: قيس بن خلف الرفاعي، مدير المنابر القرآنية، سائلاً المولى عز وجل أن يرفعه في الآخرة بعدد آي كتاب. اللَّهم آمين.

عزتمند شيخ قيس بن خلف الرفاعي- د المنابر القرآنية اداري مدير، له الله عزوجل څخه غواړم چې د قرآن كريم د آيتونو د شمېر په اندازه دي الله د ده مقام په آخرت كې لوړ كړي.آمين

ووالدي العزيزين، جعل الله أجر كل ذاكرٍ وداعٍ في ميزانهما، وفي صحيفتهما، اللَّهم آمين.

زما عزتمند مور او پلار، الله د د هر ذكر كوونكي او دعا كوونكي اجر د هغوي د نېكيو په تله او د هغوی د كړنو (اعمالو) په كتاب كې وليكي، آمين.

وأخيراً فإنني أدعو الله عز وجل أن يتقبل مني هذا العمل، وأن يجعله خالصاً لوجهه الكريم، وأن يعفو عن تقصيري وعجزي وتفريطي في أمري، وأن يعاملني بإحسانه وستره

وعفوه وكرمه في الدنيا والآخرة، وأن يجعل خير أيامي يوم ألقاه، اللّٰهم آمين

په پای کې زه له الله څخه دعا کوم چې زما دا عمل قبول کړي، او يوازې د خپلې رضا لپاره يې وګرځوي، او دا چې زما کوتاهي، کمزوري، او تېروتنې راته وبښي،او په دنيا او آخرت کې دې له ما سره د خپل احسان، پردې، بښنې اوخپل کرم له مخې معامله وکړي، او زما تر ټولو غوره ورځ دې هغه وګرځوي په کومه کې به چې زه له ده سره مخ کيږم. آمين

**مؤيد عبد الفتاح الحمدان**

الكويت ١٨ ذو القعدة ١٤٢٨ هـ

مؤيد عبد الفتاح الحمدان

کويت د ۱۴۲۸هـ کال د ذوالقعدې ۱۸ نېټه

ژباړه: ابو الحسن الکابولي

۲۳- محرم – ۱۴۴۲

## الكتاب بين دَفَّتَيْ قلبك

## کتاب ستا د زړه پر وړاندې

كلماتٌ عظيمةٌ بين يديك، أوحاها الله لخيار خلقه، فخالطت القلوب والأرواح - يومًا - فتحركت بها الألسنة، فتفتحت لها أبواب السماوات، ورفعها الله تعالى...

ستا په مخکې(د ذکر او دعا) داسې لویې کلمې دي چې الله په خپل مخلوق کې تر ټولو غوره چاته ته وحي کړې نو زړونو او روحونو ته يې سرايت وکړ او يوه ورځ پرې ژبې و ښوريدې او د آسمانونو دروازې ورته پرانیستل شوې او الله تعالی پورته کړې....

- فمن أثنى بها قبلها من الله...

داسې کلمې چاچې پرې د الله ستاینه وکړه، نو الله ترې قبوله کړه ....

- ومن صلى بها على رسوله ﷺ رفعه الله...

او چاچي پرې پر رسول ﷺ درود وويلو نو الله يې درجې لوړې كړي.

- ومن استغفر بها غفر له الله...

او چاچي پرې له الله ښښنه وغوښته، ښښنه يې ورته وكړه....

- ومن سأل بها أعطاه الله...

اوچاچي پرې له الله څه وغوښتل، الله هغه وركړل...

- ومن استعاذ بها أعاذه الله...

او چاچي پرې له الله پناه وغوښته، الله پناه وركړه.....

- ومن استرقى بها شفاه الله...

اوچاچي (د روغتيا لپاره) ځان پرې دم كړ الله روغ كړ.....

- ومن استغاث الله بها من الكرب أغاثه الله...

اوچاچي پرې له الله نه د كومې ستونزې (مشكل) څخه ځان ژغورل وغوښتل، الله ورته ژغورنه (نجات) وركړو....

- ومن التزم بها مُصْبِحـًا ومُمْسِيـًا كفاه الله[1].

- او چاچې پرې د سهار او ماښام پر مهال پابندي وکړه، الله ورته بسنه وکړه.

وفوق ذلك رضوانٌ من الله أكبر...

او له دې ټولو لوړه خبره دا چې په دې کې د الله رضا ده چې هغه تر ټولو لويه ده.....

ها هي الآن بين يديك – في هذا الموضوع – امزجْها بروحك وحرك بها لسانك، ضع هذا الكتاب بين كفيك،

---

١- أدعية الصباح والمساء تقال في وقتها المحدد فقط، وإنما أوردتها في هذه الأوراد لأنها تعتبر من جملة ما سيقوله صاحب هذه الأوراد بعد صلاة الفجر. أما إن كانت قراءة هذه الأوراد في الطواف مثلاً، فسيقتصر القارئ على الأوراد السبعة الأولى، دون ورد الصباح والمساء، فليتنبه!

(د يادوني وړ ده چې د سهار او ماښام اذکار په خپل ځانګړي وخت کې ويل کيږي، دلته مې ځکه راوړل چې دا هم د هغه اذکارو له ډلې دي چې لوستونکی به يې د سهار له لمانځه وروسته وايي، د بېلګې په ډول که چېرته دا اذکار په طواف کې ويل کيږي؛ نو لوستونکی به په لومړيو اوو اوذکارو بسنه کوي او د سهار او ماښام اذکار به نه وايي؛ نو بايد متوجه اوسي)

وابسطهما إلى ربك، كما تبسطهما – عادةً – بالدعاء والثناء، هاتفًا بربك سبحانه، ذاهلاً عن الكتاب والمكتوب، شاداً قلبك بمن توجهت له هذه الكلمات...

- دادي دا (اذكار) اوس ستا پر وړاندې دي، دا د خپل روح سره ګډ کړه او خپله ژبه پرېږ و ښوره وه، دا کتاب پر خپلو ورغوو کې ونيسه او هغه خپل رب ته داسې وغوړه وه لکه څنګه يې چې د دعا او ستاينې لپاره غوړوې، له خپل پاک څښتن سره داسې په اړيکه کې شه، چې کتاب او ليکنه درنه هېره شي او هغه ذات ته له زړه په توجه(مناجات) شه چاته چې دا کلمات(ذکر او دعا) وړاندې کوې....

هاك «أوراد أهل السنة والجماعة» فلتقرأها الآن ببصيرتك قبل بصرك، وليرددها قلبك قبل لسانك، ثم أبشر بموعود الله سبحانه من كل دعاءٍ، وبموعوده عند لقائه.

دا د دی (د اهل سنت اوجماعت اوراد) در واخله او هغه د سر له سترګو وړاندې د زړه په سترګو ولوله، او له ژبې مخکې يې په زړه زمزمه کړه، که داسې وکړې نو بيا د الله پاک لخوا د هرې دعا د قبلېدو او د هغه سره د مخ کېدو په وخت د هغه لخوا د اجر ژمنو پوره کېدو ته منتظر شه.

# وِرْدُ الثنـــاء

## د الله د ستاینې اوراد

# أيها القلب: تهيأ للثناء على الله

## اې زړه: د الله ستاينې ته چمتو شه

أمامك في الورقات القادمة أعظم الثناء في كلماتٍ...

په راتلونکو پاڼو کې ستا پر وړاندې د لويې ستاينې کلمات دي.....

كلماتٍ لا ينقصها إلا حضور قلبك بين يدي من تَرْفع له هذا الثناء الحسن...

داسې کلمات چې يوازې دې ته اړتيا لري چې ته هغه ذات ته د زړه حضور برابر کړې چاته چې دا ښايسته ستاينه وړاندې کوې.....

فمن أحسنُ ثناءً على الله من الله تعالى على نفسه..؟

نو له الله پرته څوک د الله تر ټولو ښه ستاينه کولای شي...؟

ومن أعرف بأَحب كلمات الثناء على الله من رسول الله ﷺ، ومن ملائكته المقربين؟!

او له رسول الله ﷺ او نېردې ملايكو زيات څوک د ستاينې لپاره د الله د خوښې پر کلماتو پوهېدای شي؟!

ها هو الآن بين يديك ثناء الله سبحانه، وثناء رسوله ﷺ، والملائكة المقربين، على الله سبحانه، حرك بها لسانك...

دا دي اوس ستا پر وړاندې د الله هغه ستاينې دي چې الله او رسول ﷺ او نېردې پرېښتو پر الله ويلې دي، نو ته هم خپله ژبه پرې وښوره وه...

اترك جلدك يقشعر معها ويلين...

پرېږده چې ستا د بدن پوست هم ددې اذکارو سره له وېرې وريږدي او نرم شي.....

دع عينك تفيض...

پرېږده چې اوښکې د تويې شي....

ولبك يتألق ويتسامى...

او زړه دې پورته او په ځلا شي...

بينما قلبك وأنت ترددها ساجداً في محراب التعظيم...

په داسې حال کې چې ته ددې ذکر کوې زړه دې د عظمت په محراب کې په سجده وي

* * *

# وِرْد الثناء على الله

## د الله د ستاینې اوراد

* ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤﴾ [الفاتحة: ٢-٤].

(ټوله ستاینه یوازې الله لره ده، چې د ټولو کائناتو پالونکی دی، ډېر زیات مهربان، پوره رحم لرونکی دی، د جزا د ورځې مالک دی.) [الفاتحة: ٢-٤].

* ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَجَعَلَ ٱلظُّلُمَٰتِ وَٱلنُّورَۖ﴾ [الأنعام: ١].

(تاینه الله لره ده چې آسمانونه او ځمکه یې پیدا کړل او تیارې او رڼا یې پیدا کړه) [الأنعام: ١].

* ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي هَدَىٰنَا لِهَٰذَا وَمَا كُنَّا لِنَهۡتَدِيَ لَوۡلَآ أَنۡ هَدَىٰنَا ٱللَّهُۖ﴾ [الأعراف: ٤٣].

(ستاینه الله لره ده چې مونږ ته یې دا لاره وښودله، مونږ خپله لاره نشوه موندلای که الله مونږ ته لارښونه نه وای کړې.) [الأعراف: ٤٣].

* ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ فَاطِرِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ جَاعِلِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةِ رُسُلًا أُوْلِيٓ أَجْنِحَةٍ مَّثْنَىٰ وَثُلَٰثَ وَرُبَٰعَۚ يَزِيدُ فِي ٱلْخَلْقِ مَا يَشَآءُۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٖ قَدِيرٞ ١﴾ [فاطر: ١].

(ستاینه د الله لپاره ده، چې د آسمانونو او ځمکې جوړوونکی او د پیغام رسوونکو پرېښتو ټاکونکی دی (داسې پرېښتې) چې دوه دوه، درې درې، او څلور څلور وزرونه لري، د الله چې څنګه خوښه وي د خپل مخلوق په جوړښت کې زیاتوالی راولي، بې له شکه چې الله پر هرڅه قادر (ځواکمن) دی) [فاطر: ١].

* ﴿ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَىٰ عَبْدِهِ ٱلْكِتَٰبَ وَلَمْ يَجْعَل لَّهُۥ عِوَجَاۜ ١﴾ [الكهف: ١].

(ستاینه هغه الله لره ده چې پر خپل بنده یې دغه کتاب نازل کړ او په هغه کې یې کوم کوږوالی پرې نښود.) [الكهف: ١].

* ﴿هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ عَٰلِمُ ٱلْغَيْبِ وَٱلشَّهَٰدَةِۖ هُوَ ٱلرَّحْمَٰنُ ٱلرَّحِيمُ ٢٢ هُوَ ٱللَّهُ ٱلَّذِي لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلْمَلِكُ ٱلْقُدُّوسُ ٱلسَّلَٰمُ ٱلْمُؤْمِنُ ٱلْمُهَيْمِنُ ٱلْعَزِيزُ ٱلْجَبَّارُ ٱلْمُتَكَبِّرُۚ سُبْحَٰنَ ٱللَّهِ عَمَّا يُشْرِكُونَ ٢٣ هُوَ ٱللَّهُ ٱلْخَٰلِقُ ٱلْبَارِئُ ٱلْمُصَوِّرُۖ

لَهُ ٱلۡأَسۡمَآءُ ٱلۡحُسۡنَىٰۚ يُسَبِّحُ لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۖ وَهُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ٢٤﴾ [الحشر: ٢٢-٢٤].

(الله همغه ذات دی چې له هغه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ معبود نشته، پر پټ او ښکاره هر څه پوه دی، همغه ډېر زيات مهربان او پوره رحم کوونکی دی. الله هغه ذات دی چې له هغه پرته بل هيڅوک د عبادت وړ معبود نشته، هغه پاچا، ډېر پاک، له ټولو عيبونو خوندي، امان ورکوونکی، ساتونکی، پر ټولو برلاسی، په زوره د خپل حکم نافذوونکی، د لويې څښتن او د لويې کوونکی دی، الله (له شرک څخه) پاک دی چې هغوی(خلک) يې ور سره شريکوي. الله هغه ذات دی چې د هستونې پلان جوړوونکی او نافذوونکی او د هغه سره سم د صورت جوړوونکی دی، د هغه ډېر غوره نومونه دي، هر څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي د هغه په پاکۍ سره ستاينه کوي او هغه برلاسی او د حکمت څښتن دی). [الحشر: ٢٢-٢٤].

❊ ﴿ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَهُ ٱلۡحَمۡدُ فِي ٱلۡأٓخِرَةِۚ وَهُوَ ٱلۡحَكِيمُ ٱلۡخَبِيرُ١﴾ [سبأ: ١].

(ټوله ستاينه هغه الله لره ده چې د اسمانونو او ځمکې د هر

شي ښښتن دی او په آخرت کې هم همغه لره ستاینه ده. هغه د حکمت ښښتن او با خبره دی.) [سبأ: ١].

❋ ﴿وَقُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ ٱلَّذِي لَمۡ يَتَّخِذۡ وَلَدٗا وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ شَرِيكٞ فِي ٱلۡمُلۡكِ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ وَلِيّٞ مِّنَ ٱلذُّلِّۖ وَكَبِّرۡهُ تَكۡبِيرَۢا ١١١﴾ [الإسراء: ١١١].

(او ووایه ټوله ستاینه د هغه الله لپاره ده چې نه یې څوک زوی نیولي، نه په پاچاهۍ کې څوک ورسره شریک دي، او نه هغه بېوسه دی چې څوک د هغه ملاتړی وي، او د هغه لویي بیان کړه، بشپړه لویي.) [الإسراء: ١١١].

١) «اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ نُورُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ قَيِّمُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ مَلِكُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَمَنْ فِيهِنَّ، وَلَكَ الحَمْدُ أَنْتَ الحَقُّ، وَوَعْدُكَ الحَقُّ، وَقَوْلُكَ حَقٌّ، وَلِقَاؤُكَ حَقٌّ، وَالجَنَّةُ حَقٌّ، وَالنَّارُ حَقٌّ، وَالسَّاعَةُ حَقٌّ، وَالنَّبِيُّونَ حَقٌّ، وَمُحَمَّدٌ حَقٌّ، اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، أَنْتَ رَبُّنَا وَإِلَيْكَ

الْمَصِيرُ، فَاغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَأَنْتَ الْمُؤَخِّرُ، أَنْتَ إِلَهِي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِكَ».

١- اې الله! تالره ستاینه ده، ته د آسمانونو او ځمکې او څه چې په دې دواړو کې دي د هغې نور(رڼا) پیدا کوونکی (هغوی ته لاربنوونکی) یې. او تا لره ستاینه ده ته د آسمانونو اوځمکې او څه چې په دې دواړو کې دي د هغو اداره(تدبیر) کوونکی یې، او تا لره ستاینه ده ته د آسمانونو اوځمکې او څه چې په دې دواړو کې دي د هغو څښتن(پالونکی) یې، او تا لره ستاینه ده، ته حق یې(ستا شتون او الوهیت حقیقي دی) ستا خبره حق ده، ستا ژمنه حق(رېښتیا) ده، ستا په وړاندې حاضرېدل حق دي (درسره مخامخ کېدل حق دي) جنت حق (موجود) دی، د دوزخ اور حق(موجود) دی، انبیاء حق (د الله لخوا رالیږل شوي) دي، محمد ﷺ حق (د الله لخوا رالیږل شوی) دی، د قیامت ورځ حق (راتلونکې) ده، اې الله! تا ته (ستا احکامو ته) مې سر ټیټ کړی، او پر تا مې بروسه کړې،او پر تا مې ایمان راوړی، او ستا خوا ته رجوع کوم، او ستا په راکړو دلیلونو(له معاندیونو سره) مبارزه کوم، د(شخړو) پرېکړو لپاره تا ته رجوع کوم، نو زما هغه ګناهونه وبښه

کوم چې ما وړاندې کړي او کوم چې زه یې وروسته کوم، او کوم چې ما پټ کړي او کوم چې ما په ښکاره کړي، او پر کومو چې ته له ما څخه ښه خبر یې، ته وړاندې (پورته) کوونکی او شاته (ښکته) کوونکی یې، ته زما برحق معبود یې نشته د عبادت وړ معبود مګر یوازې ته یې. (له ګناه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) هیڅ طاقت او قدرت نشته مګر ستا په مرسته سره.

۲) «اللَّهُمَّ ربَّنَا لَكَ الحَمْدُ، مِلْءَ السَّمَاوَاتِ وَمِلْءَ الأَرْضِ وَمِلْءَ مَا شِئْتَ مِنْ شَيْءٍ بَعْدُ، أَهْلَ الثَّنَاءِ وَالمَجْدِ، أَحَقُّ مَا قَالَ العَبْدُ، وَكُلُّنَا لَكَ عَبْدٌ، لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ».

۲- اې زمونږ پروردګاره (پالونکیه)! تا لره پوره ستاینه ده د آسمانونو او ځمکې او د دې دواړو ترمینځ د مخلوقاتو د ډکوالي په اندازه، او په اندازه د ډکوالي د هغه شیانو چې وروسته یې غواړې (د خلقت اراده یې وکړې)، اې د ستاینې او لویې څښتنه! ته ډېر وړ یې د هغه (صفت) چې یو بنده ویلی دی، او مونږ ټول ستا بندګان یو، اې الله! ته چې (چاته) څه ورکړې، د هغه (څوك) بندوونکی نشته، او ته چې (له چا نه) څه بند کړې د هغه (څوك) ورکوونکی نشته، او

ګټه نه ورکوي شتمن لره د هغه مال (ستا د عذاب په لرې کولو کې).

٣) «اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ كُلُّهُ، وَإِلَيْك يُرْجَعُ الأَمْرُ كُلُّهُ».

٣-اې الله تا لره ټوله ستاینه ده او د هرکار واک له تا سره دی.

٤) «الحَمْدُ لِلَّهِ، حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ، كَمَا يُحِبُّ رَبُّنَا وَيَرْضَى».

۴-الله لره ستاینه ده، ستاینه ډېره زیاته، پاکه او مبارکه، لکه څنګه چې زموږ د پالونکي خوښه وي او هغه پرې راضي کېږي.

٥) «الحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيراً، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيراً».

۵- الله لره ډېره زیاته ستاینه ده، د لوی الله لویي بیانوم.

٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنِّي أَشْهَدُ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ الذَّي لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، الأَحَدُ الصَّمَدُ الذَّي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ».

٦- اې الله! زه ستا څخه غوښتنه کوم په دې چې زه ددې ګواهي ورکوم چې همدا ته الله يې، نشته وړ د عبادت مګر همدا

ته يې،ايکي يو او بې نيازه يې، هغه ذات چې نه له چا زيږدلی او نه له ده څوک زيږدلي، او هيڅوك هغه لره سيال نشته.

۷) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الحَمْدَ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، المَنَّانُ، يَا بَدِيعَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ».

۷- اې الله! زه درنه غوښتنه کوم په دې چې تا لره ټوله ستاينه ده، له تا پرته بل څوک د عبادت وړ معبود نشته، ته زيات احسان(نعمت) ورکوونکی (او احسان باروونکی) يې، د آسمانونو او ځمکې بې ساري پيدا کوونکی يې، ای د لويي او عزت ورکولو څښتنه، ای د بشپړ ژوند څښتنه! ای د کايناتو تدبيروونکيه!

۸) «اللَّهُمَّ إِنِّي أُشْهِدُكَ، وَأُشْهِدُ مَلَائِكَتَك وحَمَلَةَ عَرْشِكَ، وَأُشْهِدُ مَنْ فِي السَّمَاوَاتِ وَمَنْ فِي الأَرْضِ؛ أَنَّكَ أَنْتَ اللهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّداً عَبْدُكَ وَرَسُولُكَ».

۸- اې الله! زه تا په دې شاهد نيسم، او ستا پرېښتې او ستا دعرش پورته کوونکي(پرېښتې)پرې شاهداني ګرځوم او زه

هغه (مخلوقات) چې په آسمانونو او هغه (مخلوقات) چې په ځمکه کې دي په دې شاهدان گرځوم چې بېشکه ته الله يې، له تا پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، ته يو يې، شريك نه لرې، او زه شاهدي ورکوم چې محمد ستا بنده او ستا استازی دی.

٩) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ، سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ العَلِيِّ العَظِيمِ».

٩- له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريك نه لري، هغه لره (د کائناتو) ټولواکي او پوره غوره ستاينه ده، او همدی پر هر څه قادر دی. پاك دی الله، پوره ستاينه الله لره ده، نشته لايق د عبادت مگر يوازې يو الله دی، او الله ډير لوی (ذات) دی. نشته هيڅ ځواک او توان (له گناه څخه د ځان ساتلو او د نيکيو د کولو) مگر د اوچت او لوی الله په توفيق سره.

١٠) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، اللهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، وَالحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيراً، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ العَالَمِينَ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهَ العَلِيِّ العَظِيمِ العَزِيزِ الحَكِيمِ».

١٠- له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريك نه لري، د لوی الله لويي بيانوم، الله لره ډېره زياته ستاينه ده، پاكي ده الله لره چې پالونكی د ټولو كايناتو دی، هيڅ ځواک او توان نشته (له گناه څخه د ځان ساتلو او د نيكيو د كولو) مگر د الله په مرسته سره، چې د غلبې (زور) او حكمت څښتن دی.

١١) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ لَهُ المُلْكُ وَلَهُ الحَمْدُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ ولَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ».

١١- له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه يو دی، شريك نه لري، له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته چې د پاچايۍ (ټولواكۍ) څښتن دی، هغه لره (د كائناتو) ټولواكي او پوره غوره ستاينه ده، له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، او الله ډېر لوی دی، نشته وړ د عبادت مگر يوازې يو الله دی. نشته

هیڅ ځواک او توان (له ګناه څخه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) مګر د الله په توفیق سره.

۱۲) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدهُ، أَعَزَّ جُنْدَهُ، وَنَصَرَ عَبْدَهُ، وَغَلَبَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ، فَلَا شَيْءَ بَعْدَهُ».

۱۲- له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه یو دی، (الله) خپل لښکر برلاسی کړو، او د خپل بنده مرسته یې وکړه، او په یوازې یې (د کافرانو) ډلو ته ماتې ورکړه، نو له ده پرته بل شی بقا نلري..

۱۳) «سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الأَرْضِ، وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، وَسُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ.

۱۳- الله لره د هغه مخلوقاتو په اندازه پاکي ده کوم یې چې په آسمان کې پیدا کړي او کوم یې چې په ځمکه کې پیدا کړي او کوم یې چې ددې دواړو ترمنځ پیدا کړي، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه پاکي ده چې دی یې پیدا کوونکي دی.

اللهُ أَكْبَرُ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ وَاللهُ أَكْبَرُ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الأَرْضِ، وَاللهُ أَكْبَرُ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، وَاللهُ أَكْبَرُ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ.

الله لره د هغه مخلوقاتو په اندازه لويي ده کوم يې چې په آسمان کې پيدا کړي او کوم يې چې په ځمکه کې پيدا کړي او کوم يې چې ددې دواړو ترمنځ پيدا کړي، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه لويي ده چې دی يې پيدا کوونکی دی.

الحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الأَرْضِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ.

الله لره د هغه مخلوقاتو په اندازه ستاينه ده کوم يې چې په آسمان کې پيدا کړي او کوم يې چې په ځمکه کې پيدا کړي او کوم يې چې ددې دواړو ترمنځ پيدا کړي، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه ستاينه ده چې دی يې پيدا کوونکی دی.

لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الأَرْضِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ.

د الله د هغه مخلوقاتو په اندازه کوم يې چې په آسمان کې پيدا کړي د دې اقرار کوم چې له الله پرته څوک د عبادت وړ معبود نشته او د هغه مخلوقاتو په اندازه کوم يې چې په ځمکه کې پيدا کړي ددې اقرار کوم چې له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته او د هغه څه په اندازه کوم يې چې ددې دواړو ترمنځ پيدا کړي ددې اقرار کوم چې له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته او د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه چې دی يې پيدا کوونکی دی ددې اقرار کوم چې له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته.

لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي السَّمَاءِ.

د هغه مخلوقاتو په اندازه کوم چې (الله) په آسمان کې پيدا کړي د دې اقرار کوم چې (له گناه د ځان د ساتلو او د نيکيو د کولو) هيڅ ځواک او توان نشته مگر د الله په توفيق سره.

وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ فِي الأَرْضِ.

د هغه مخلوقاتو په اندازه کوم چې (الله) په ځمکه کې پيدا

کړي د دې اقرار کوم چې (له گناه نه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) هیڅ ځواک او توان نشته مگر د الله په توفیق سره.

وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ عَدَدَ مَا بَيْنَ ذَلِكَ.

د هغه مخلوقاتو په اندازه کوم چې (الله) د دې دواړو (ځمکې او آسمان) په منځ کې پیدا کړي د دې اقرار کوم چې (له گناه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) هیڅ ځواک او توان نشته مگر د الله په توفیق سره.

وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ عَدَدَ مَا هُوَ خَالِقٌ».

د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه چې هغه (الله) یې پیدا کوونکی دی د دې اقرار کوم چې (له گناه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) هیڅ ځواک او توان نشته مگر د الله په توفیق سره.

١٤) «الحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا خَلَقَ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ مِلْءَ مَا خَلَقَ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا فِي الأَرْضِ وَالسَّمَاءِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ مِلْءَ مَا فِي الأَرْضِ وَالسَّمَاءِ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ مَا أَحْصَى كِتَابُهُ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ مِلْءَ مَا أَحْصَى كِتَابُهُ، وَالحَمْدُ لِلَّهِ عَدَدَ كُلِّ شَيْءٍ، وَالحَمْدُ لله مِلْءَ كُلِّ شَيْءٍ.

۱۴- الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه چې ده پیدا کړي ستاینه ده، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو د ډکولو په اندازه چې ده پیدا کړي ستاینه ده، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه چې ده په ځمکه او آسمان کې پیدا کړي ستاینه ده، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو د ډکولو په اندازه چې ده په ځمکه او آسمان کې پیدا کړي ستاینه ده، او الله لره ستاینه ده د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه چې دده کتاب(لوح محفوظ) شمار(ثبت) کړي، او الله لره ستاینه ده د هغه ټولو مخلوقاتو د ډک والي په اندازه کوم چې دده کتاب(لوح محفوظ) شمار(ثبت) کړي، او الله لره ستاینه ده د ټولو مخلوقاتو په اندازه، او الله لره ستاینه ده د ټولو مخلوقاتو د ډک والي په اندازه.

سُبْحَانَ اللهَ عَدَدَ مَا خَلَقَ، سُبْحَانَ اللهَ مِلْءَ مَا خَلَقَ، سُبْحَانَ اللهَ عَدَدَ مَا فِي الأَرْضِ وَالسَّمَاءِ، سُبْحَانَ اللهِ مِلْءَ مَا فِي الأَرْضِ

وَالسَّماءِ، سُبحَانَ اللهِ عَدَدَ مَا أَحْصَى كِتَابُهُ، سُبْحَانَ اللهِ مِلْءَ مَا أَحْصَى كِتَابُهُ، سُبْحَانَ اللهِ عَدَدَ كُلِّ شَيْءٍ، سُبْحَانَ اللهِ مِلْءَ كُلِّ شَيْءٍ».

الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه پاکي ده چې ده پیدا کړي، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو د ډکولو په اندازه پاکي ده چې ده پیدا کړي، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه پاکي چې ده په ځمکه او آسمان کې پیدا کړي، او الله لره د هغه ټولو مخلوقاتو د ډکولو په اندازه پاکي ده چې ده په ځمکه او آسمان کې پیدا کړي، او الله لره پاکي ده د هغه ټولو مخلوقاتو په اندازه چې دده کتاب(لوح محفوظ) شمار(ثبت) کړي، او الله لره پاکي ده د هغه ټولو مخلوقاتو د ډک والي په اندازه کوم چې دده کتاب(لوح محفوظ) شمار(ثبت) کړي، او الله لره پاکي ده د ټولو مخلوقاتو په اندازه، او الله لره پاکي ده د ټولو مخلوقاتو د ډک والي په اندازه.

۱۵) «سُبْحَانَكَ، مَا أَعْظَمَكَ رَبَّنَا».

۱۵- اې زمونږ پالونکیه! پاکي ده تا لره، ته څومره لوی شان والا يې.

١٦) «سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ».

١٦- اې الله! تا په پاکۍ سره يادوم، او ستا ستاينه کوم، او مبارك دى نوم ستا، او لوى دى شان او شوکت ستا، او بې له تانه بل څوك د عبادت وړ نشته.

١٧) «اللهُ أَكْبَرُ كَبِيراً، وَالحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيراً، وَسُبْحَانَ اللهِ بُكْرَةً وَأَصِيلاً».

١٧- الله لوى دى، چې د لويې څښتن دى، او الله لره ډېره زياته ستاينه ده، الله لره پاکي بيانوم سهار او ماښام.

١٨) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ، وَبِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوبَتِكَ، وَبِكَ مِنْكَ، لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْكَ؛ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ».

١٨- اې الله! زه ستا په رضا سره ستا له غضب نه، او ستا په عافيت ستا له عذاب نه، او پر تا له تا څخه پناه غواړم، زه ستا پوره ستاينه نشم کولاى، ته همغسې يې لکه څنګه چې تا د ځان ستاينه کړې ده.

﴿سُبۡحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلۡعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ١٨٠ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلۡمُرۡسَلِينَ ١٨١ وَٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ١٨٢﴾ [الصافات: ١٨٠-١٨٢].

(ستا رب د عزت خښتن، د ټولو هغو خبرو څخه پاک دی چې هغوی يې جوړوي، او پر رسولانو سلام دی، او ټوله ستاينه يوازې د مخلوقاتو د پالونکي لپاره ده.) [الصافات: ١٨٠-١٨٢].

* * *

# تـــذكـــر[٢]...

**ياد لره...**

قبل أن يَبْعُدَ بك العهد عن (ورد الثناء) تذكر...

وړاندې له دې چې وخت تا د (ستاينې له اذكارو لرې كړي نو فكر وكړه ....

تذكر: أي عالَمٍ دخلت، وأي كلماتٍ قُلْتَ، وعلى من أثنيت، وأي أجورٍ كسبت!

فكر وكړه: چې كومې دنيا ته ننوتې، او كومې كلمې د زمزمه كړې، او د چا ستاينه دې وكړه، او څومره اجرونه دې وګټل!

---

٢- كل ما سيأتيك بعد قولنا «تذكر ...» في هذا الكتاب - من فضائل وأجور فهو مما صح عن النبيﷺ، ولمعرفة كل دعاء وفضله ارجع إلى تخريج الأحاديث في آخر الكتاب.

ياد لره... په دې كتاب كې زمونږ له دې خبرې(فكر وكړه...) نه وروسته چې څه راځي هغه ددې اذكارو فضائل او اجرونه دي چې له رسول الله ﷺ څخه ثابت شوي، د هرې دعا او د هغې د فضيلت لپاره د كتاب په پاى كې د احاديثو تخريج ته مراجعه وكړه.

❊ لقد أثنيت على الله باسمه الأعظم، الذي إذا دُعِيَ به أجاب، وإذا سُئِلَ به أعطى.

پرته له شکه چې تا د الله د هغه اسم اعظم له لارې د الله ستاينه وکړه، د کوم په مرسته چې الله ته دعا وشي نو هغه دعا قبليږي او څه چې ترې وغوښتل شي نو هغه ورکول کيږي.

❊ لقد أثنيت على الله ثَنَاءً سَتُعْتَقُ به من النار -بإذن الله-.

پرته له شکه چې تا د الله داسې ستاينه وکړه چې د هغې په مرسته به -د الله په امر – له اوره آزادي مومې

❊ ثَنَاءً سينفعك -بإذن الله- في الدنيا والآخرة.

داسې ستاينه چې – که د الله خوښه شي – نو په دنيا او آخرت کې به گټه درته ورسوي.

❊ ثَنَاءً سيجيبك الله بقوله «صَدَقَ عبدي».

داسې ستاينه چې الله به د غږ واوري او په دې ټکو به ځواب درکړي (زما بنده رښتيا وويل).

❋ ثَنَاءً عَجِبَ منه النبي ﷺ لما سمعه، وقد فُتِّحَتْ له أبواب السماء.

داسې ستاينه چې کله نبي ﷺ واورېده نو په تعجب کې شو، او پرته له شکه چې د آسمانونو دروازې ورته پرانېستل شوې.

❋ ثَنَاءً هو أكثر وأفضل من ذكرك الليل والنهار.

داسې ستاينه چې هغه به ستا د شپې او ورځې له ذکر څخه هم زياته او غوره وي.

❋ ثَنَاءً هو ثناء ذلك الديك، الذي عرف من عظمة الله ما عرف، فسبح تسبيح المطلع العارف الحق.

دا ستاينه د هغه چرگ ستاينه ده چې کله د الله له عظمت څخه خبر شو نو په حق باندې د پوه شوي په څير يې ستاينه وکړه.

❋ ثَنَاءً سيبتدره -بإذن الله- عشرة أملاك كلهم حريصون على أن يكتبوه، ولن يستطيعوا أن يكتبوه إلا كما قُلْتَهُ، وأما أجره فعند الله لك مدخر.

داسې ستاينه چې د هغې د ليکلو لپاره به – د الله په امر سره- لس پرېښتې را وړاندې کيږي چې هره يوه به کوښښ کوي

چې د هغې اجر ولیکي، خو هغه به هیڅکله هم ونشي لیکلی مګر دا چې (دا ستاینه) همغسې ولیکي لکه څنګه چې تا ویلې وي، خو اجر به یې ستا لپاره د الله سره ساتل شوی وي.

❋ ثَنَاءً سَيُكْتَبُ لك به –بإذن الله– رحمة الله كثيراً، كما أثنيت عليه كثيراً.

داسې ستاینه چې په دې سره به - د الله په امر- تاته د الله دومره ډیر رحمت لیکل کیږي لکه څومره ډېر چې تا د هغه ستاینه کړې.

فهل عرفت أين ارتقيت؟ وماذا كسبت؟ وَبِمَ أثنيت؟ إن شئت عُدْ متأملاً، وإن شئت فامض عارفـاً مُسْتَغْرِقـاً...

نو اوس پوه شوې چې کوم مقام ته رسېدلی یې؟ او څه د تر لاسه کړې؟ او پر څه د ستاینه کړې؟ که دې خوښه شي نو د فکر لپاره یو ځل بیا را وګرځه او کنه نو د (الله) په ستاینه کې ډوب مخ پر وړاندې ځه...

❋ ❋ ❋

# وِرْدُ الصلاة على النبي ﷺ

## پر نبي ﷺ د درود ذکر

## أيها القلب: تهيأ للصلاة على الحبيب ﷺ

## اې زړه! پر حبيب ﷺ د درود ويلو لپاره چمتو شه

هاك الصلاة على رسول الله ﷺ.. اشف بها اشتياقك إليه...

اسْتَجْلِبْ بها صلاة الله العظيمة عليك...

اشْكُرْ بها بعض نعم الله بمحمدٍ ﷺ عليك...

وَلْيَسْتَجْمِعْ قلبك في كل صلاةٍ عليه مقامه وفضله....

د رسول الله ﷺ درود درواخله، او د هغه سره د ليدو مينه پرې ماته کړه.....

دذي له لارې پر ځان د الله عظيم رحمت را نازل کړه...

دذي (درود) په مرسته د الله د ځينو هغه نعمتونو شکر ادا کړه چې د محمد ﷺ له لارې يې پر تا کړي....

د هر ځل درود ويلو پر مهال بايد ستا زړه د هغه (صلى الله عليه وسلم) مقام او فضيلت درک کړي....

وَلْتَسْتَحْضِرْ أن صلاتك الآن تُعْرَضُ عليه بعد أن تُرَدَّ عليه روحه إذ تصلي عليه.

وَاسْتَشْعِرِ الشرف الذي تحوزه –أنت– بانضمامك لمن قال الله تعالى فيهم:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ وَمَلَٰٓئِكَتَهُۥ يُصَلُّونَ عَلَى ٱلنَّبِيِّۚ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ صَلُّواْ عَلَيۡهِ وَسَلِّمُواْ تَسۡلِيمًا ٥٦﴾ [الأحزاب: ٥٦].

او په دې باید پوه شې چې کله ته پر هغه درود وایې نو هغه ته د روح راستنیدو وروسته ستا ویل شوی درود وړاندې کیږي.

د هغه شرف(مقام) په اړه فکر وکړه کوم چې به تاته د هغه خه له امله رسیږي چې ته هم د هغه چا له ډلې څخه کیږې چه په اړه یې الله تعالی فرمایي:

(بیشکه الله او د هغه پرېښتې پر نبي درود وایي،اې مؤمنانو! تاسې هم پر هغه درود او سلام ووایئ.)

فاللَّهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ.

اې الله! درود او سلام او برکت ولیږه، زمونږ پر نبي محمد ﷺ باندې.

* * *

# وِرْدُ الصلاة على النبي ﷺ

## پر نبي ﷺ د درود اوراد

١) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْراهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

١- اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال درود ولېږه، لکه څنګه چې دې پر ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام پر اهل وعيال درود لېږلی، په رښتيا ته ستايل شوی يې، د لويې څښتن يې.
اې الله! برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال، لکه څنګه چې دې برکت نازل کړی دی پر ابراهيم عليه السلام، او د ابراهيم عليه السلام پر اهل وعيال، په رښتيا ته ستايل شوی، د لويی څښتن يې.

٢) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

٢- اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر بيبيانو (اهل) اوعيال درود ولېږه، لکه څنگه چې دې د ابراهيم عليه السلام پر اهل وعيال درود لېږلی دی. اې الله! برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د محمد پر بيبيانو (اهل) وعيال، لکه څنگه چې دې برکت نازل کړی د ابراهيم عليه السلام پر اهل وعيال، په رېښتيا سره ته ستايل شوی، د لويي څښتن يې.

٣) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِهِ، وَعَلَى أَزْوَاجِهِ وَذُرِّيَّتِهِ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

٣- اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر کورنۍ، او دده پر بيبيانو (اهل) اوعيال درود ولېږه، لکه څنگه چې دې د ابراهيم پر اهل وعيال درود لېږلی دی، په رېښتيا سره ته ستايل شوی يې، د لويي خاوند يې. اې الله! برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر کورنۍ او دده پر بيبيانو (اهل) اوعيال باندې،

لکه څنګه چې دې برکت نازل کړی دی د ابراهیم ﷺ پر اهل وعیال، په رېښتیا ته ستایل شوی، د لویۍ څښتن یې.

٤) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّد النَّبِيِّ الأُمِيِّ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَأ صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الأُمِيِّ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ فِي العَالَمِينَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

۴- اې الله! پر محمد ﷺ چې امي نبي دی، او د محمد ﷺ پر اهل وعیال درود را ولېږه، لکه څنګه چې دې د ابراهیم ﷺ پر اهل وعیال درود لېږلی، او برکت نازل کړه پر محمد ﷺ چې امي نبي دی، او د محمد ﷺ پر اهل وعیال باندې، لکه څنګه چې دې برکت نازل کړی دی د ابراهیم ﷺ پر اهل وعیال باندې په ټولو نړۍ والو کې، په رېښتیا ته ستایل شوی، د لویۍ څښتن یې.

٥) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّد، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ وَبَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ وَآلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ».

٥- اې الله! پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال درود ولېږه، او برکت نازل کړه پر محمد ﷺ او د محمد ﷺ پر اهل وعيال باندې، لکه څنګه چې دې درود لېږلی او برکت د نازل کړی دی پر ابراهيم عليه السلام، او د ابراهيم عليه السلام پر اهل وعيال باندې، په رېښتيا ته ستايل شوی، د لويي څښتن يې.

٦) «اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، وَبَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ عَبْدِكَ وَرَسُولِكَ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ».

٦- اې الله! پر محمد چې ستا بنده او رسول دی درود ولېږه، لکه څنګه چې د درود لېږلی د ابراهيم پر اهل او عيال باندې، او برکت نازل کړه پر محمد چې ستا بنده او رسول دی، او پر اهل او عيال د محمد، لکه څنګه چې د برکت نازل کړی پر ابراهيم او د ابراهيم پر اهل او عيال باندې.

❊ ❊ ❊

## تـذكــر...

### فكر وکړه .....

تَذَكَّرْ أين بَلَغَتْ بك الصلاة على الحبيب ﷺ ...

فكر وکړه چې پر حبيب ﷺ درود ته کوم مقام ته ورسولې.....

* إنها صَلَوَاتٌ فتح الله لك بها أبواب السماء... لقوله ﷺ: «كل دعاءٍ محجوبٌ حتى يُصَلَّى على النبي ﷺ» (الصحيحة ۲۰۳۵)

دا هغه درود دی چې ددې په مرسته تاته الله د آسمانونو دروازې پرانېستې....لکه رسول ﷺ چې فرمايي (د هرې دعا لاره بنده وي (پورته نه ځي) تر دې چې پر نبي عليه السلام درود وويل شي. (الصحيحة ۲۰۳۵)

* إنها صَلَوَاتٌ كتب الله لك بها: ستين حسنة، وغفر لك بها ستين سيئة، ورفعك ستين درجة.

دا هغه درود دی چې په پايله کې يې الله تاته شپېته نيکۍ ليکلي، او شپېته بدۍ درته ښنبې، او شپېته درجې دې لوړه وي.

❃ إنها صَلَوَاتٌ أثنى عليك بها الله في الملأ الأعلى.

دا هغه درود دی چې ددې له امله الله تعالی د ملائکو په مجلس کې ستا ستاينه کوي.

❃ إنها صَلَوَاتٌ بلغت النبيَّ ﷺ بتبليغ الملك إياه، فقد قال ﷺ: «من صلى علي، صلى الله عليه عشراً، وَوُكِلَّ بها ملك حتى يبلغنيها» (صحيح الترغيب ١٦٦٣)

دا هغه درود دی چې د ملايكو له لارې نبي عليه السلام ته رسيږي، نبي عليه السلام فرمايي: (چاچې پر ما يو ځل درود وويلو نو الله پر هغه لس ځله درود(رحمت) وايي، او دې درود ته يوه پرېښته ټاكلې شوې تر څو هغه ماته را ورسوي. (صحيح الترغيب ١٦٦٣)

❃ إنها صَلَوَاتٌ رَدَّ الله بها روح خليله ﷺ ليرد عليك السلام، قال ﷺ: «ما من أحدٍ يسلم عَلَيَّ إلا رَدَّ الله إليَّ روحي حتى أرد عليه السلام». (أبو داود ٢٠٤١، وحسنه الألباني).

دا هغه درود دی چې الله تعالی يې له امله د خپل خليل ﷺ ته روح ليږي تر څو ستا سلام ته ځواب ووايي، نبي عليه السلام

فرمايي: (پر ما چې څوک هم سلام ووايي نو الله ماته زما روح راليږي تر څو زه د هغه سلام ته ځواب ورکړم.)

❊ إنها صَلَوَأتٌ ستكون بها -بإذن الله- من أَوْلَى الناس بالنبيﷺ، لقولهﷺ: «إن أَوْلَى الناس بي يوم القيامة أكثرهم عَلَيَّ صلاةً» (صحيح الترغيب ١٦٦٨).

دا هغه درود دی چې ددې له کبله که د الله خوښه وه- په ورځ د قيامت به نبي عليه السلام ته تر ټولو ورنږدې وې، لکه څنګه چې هغهﷺ فرمايي (د قيامت په ورځ به ماته هغه څوک نږدې وي چاچې تر ټولو زيات پر ما درود ويلی وي.) (صحيح الترغيب ١٦٦٨).

فکم ستجعل بعد هذا للصلاة على النبي في حياتك من نصيبٍ؟

نو له دې وروسته به په خپل ژوند کې د نبي عليه السلام درود ته څومره وخت ورکوې؟

❊ ❊ ❊

# وِرْدُ الاستغفار

## د ښښي غوښتلو اوراد

## أيها القلب: تـهيأ لاستغفار ربك

### اې زړه! له خپل پالونکي څخه ښښنې غوښتو ته چمتو شه

تيقن أن أخطر المخاطر عليك في دنياك وآخرتك هي ذنوبك...!

په دې کلک باوري اوسه چې په دنيا او آخرت کې ستا لپاره په خطرونو کې تر ټولو لوی خطر ستا گناهونه دي....!

واعلم أنك ستمر الآن بكلمات استغفار، إنما هي بحور المغفرة الزاخرة...

پوه شه چې ته به اوس د ښښنې غوښتلو په کلماتو تېرېږې، چې په حقيقت کې دا د ښښنې ډک سيندونه دي...

فإياك أن ترددها بلسانك ويبقى من دَرَنِكَ في صحيفتك شيءٌ!

پام کوه چې داسې نه وي چې دا (اذکار) په خپله ژبه تکرار کړې خو (د اعمالو) په پاڼه کې دې بيا هم (د گناه) له چټليو (زنگونه) څه شی پاتې شي.

يا لها من كلماتٍ لو وافقت قلوبـًا حيةً، عرفت عظمة من عصت وخالفت، فقالت باستحياءٍ وإشفاقٍ: ﴿رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ﴾ [الأعراف: ٢٣].

ځومره عجيبه اذکار دي که چېرته ويښو زړونو ته ښکته شي نو د چا سرغړونه او مخالفت يې چې کړی وي د هغې پر لويي به پوه شي نو ډېر په وېره او حيا سره به ووايې: اې زمونږه ربه! مونږ پر خپل ځان ظلم وکړ، اوس که تا مونږ ته ښنه ونه کړه او پرمونږ دې رحم ونه کړ، نو مونږ به هرومرو له زيانمنو شو. [الأعراف: ٢٣].

فحذار أن تردد استغفارك وقلبك ذاهلٌ عن عاقبة أمرك إن لم يغفر الله لك...!

نو پام کوه چې د ښښنې دا کلمات په داسې حال کې زمزمه نه کړې چې زړه دې له دې پوښتنې بې پروا وي که چېرته الله ښښنه درته ونه کړي نو څه به کوې ...!

غافلٌ عن حقيقة المعاني الكبيرة للاستغفار القادم...!

او يا دا چې زړه دې د ښښنې د راتلونکو اذکارو له حقيقي معناوو بې پروا وي....!

غافلٌ عن عِظَمِ من عصيت...!

او يا هم د هغه چا له لويي بې پروا شې له چا چې دې سرغړونه کړې....!

فليهجم لسانك وقلبك معاً على هذا الاستغفار، فقد آن أوان المغفرة، فليس على الله كثيرٌ أن يغفر لك ما تقدم من ذنبك وما تأخر بانتهاء هذا الورد...

په کار ده چې ستا ژبه او زړه دواړه پر يو مهال دې ښښنې (استغفار) اذکارو ته متوجه شي، بيشکه چې د ښښنې شيبې رارسيدلې، الله ته هيڅ سخته نه ده چې ددې اذکارو له ختمولو سره ستا مخکې او وروسته گناهونه وبښي...

أليس الله هو الغفور الرحيم؟

آيا الله ښښونکی او مهربان نه دی؟

❊ ❊ ❊

# وِرْدُ الاسِتِغْفَار

## د ښښې غوښتلو (استغفار) اوراد

* ﴿رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ٢٣﴾ [الأعراف: ٢٣].

(اې زما پالونکیه! مونږ پر ځانو ظلم کړی، اوس که تا مونږ ته ښښنه ونه کړه او پر مونږ دې رحم ونه کړ، نو مونږ به هرو مرو زیانمن شو.) [الأعراف: ٢٣].

* ﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيَّ وَلِلۡمُؤۡمِنِينَ يَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡحِسَابُ ٤١﴾ [إبراهيم: ٤١].

(زمونږ پالونکیه! ما زما مور، پلار او ټولو مؤمنانو ته د حساب په ورځ ښښنه وکړه.) [إبراهيم: ٤١].

* ﴿رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذۡنَآ إِن نَّسِينَآ أَوۡ أَخۡطَأۡنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تَحۡمِلۡ عَلَيۡنَآ إِصۡرٗا كَمَا حَمَلۡتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِنَاۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلۡنَا

مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦۖ وَٱعۡفُ عَنَّا وَٱغۡفِرۡ لَنَا وَٱرۡحَمۡنَآۚ أَنتَ مَوۡلَىٰنَا فَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ﴿٢٨٦﴾﴾ [البقرة: ٢٨٦].

اې زمونږ پالونکيه! كه له مونږ څه هېره او تېروتنه وشي، مونږ پرې مه نيسه. اې زمونږ پالونکيه! پر مونږ هغه پېټی مه ږده چې له مونږ مخکې دې پر پخوانيو خلکو ايښی و، اې زمونږ پالونکيه! د کوم پېټي د پورته کولو وس چې په مونږ کې نشته هغه پر مونږ مه ږده، له مونږ سره آساني وکړه، ته مو کار جوړوونکی يې، د کافرانو پر وړاندې زمونږ مرسته وکړه.) [البقرة: ٢٨٦].

❊ ﴿رَّبَّنَآ إِنَّنَا سَمِعۡنَا مُنَادِيًا يُنَادِي لِلۡإِيمَٰنِ أَنۡ ءَامِنُواْ بِرَبِّكُمۡ فَـَٔامَنَّاۚ رَبَّنَا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَكَفِّرۡ عَنَّا سَيِّـَٔاتِنَا وَتَوَفَّنَا مَعَ ٱلۡأَبۡرَارِ﴿١٩٣﴾ رَبَّنَا وَءَاتِنَا مَا وَعَدتَّنَا عَلَىٰ رُسُلِكَ وَلَا تُخۡزِنَا يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۖ إِنَّكَ لَا تُخۡلِفُ ٱلۡمِيعَادَ﴿١٩٤﴾﴾ [آل عمران: ١٩٣-١٩٤].

(اې زمونږ پالونکيه! مونږ د يو نارې وهونکي (رسول) آواز واورېدو چې د ايمان لوري ته يې بلنه ورکوله او ويل يې چې خپل رب ومنئ، مونږ د هغه بلنه ومنله، نو اې زمونږ پالونکيه! کومه گناه چې زمونږ څخه شوې ده، له هغې را تېر شه، کومې بدۍ چې په مونږ کې دي، هغه را څخه ايسته کړه، او په پای

کي راته د غوره خلکو ملګرتيا را په برخه کړه. زمونږ پالونکيه! کومې ژمنې چې تا د خپلو رسولانو له لارې را سره کړې دي، هغه را سره تر سره کړه او د قيامت په ورځ مو له رسوايۍ سره مه مخ کوه، په دې کې شک نشته، چې ته له خپلو ژمنو مخالفت نه کوې.) [آل عمران: ۱۹۳-۱۹۴].

* ﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا وَلِإِخۡوَٰنِنَا ٱلَّذِينَ سَبَقُونَا بِٱلۡإِيمَٰنِ وَلَا تَجۡعَلۡ فِي قُلُوبِنَا غِلّٗا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ رَبَّنَآ إِنَّكَ رَءُوفٞ رَّحِيمٌ ١٠﴾ [الحشر: ۱۰].

(اې زمونږ پالونکيه! مونږ او زمونږ هغو ورونړو ته بښنه وکړه، چې له مونږ مخکې يې ايمان راوړی دی، او زمونږ په زړونو کې د مؤمنانو لپاره هيڅ کينه مه اچوه، اې زمونږ پالونکيه! ته ډېر مهربان او رحم کوونکی يې.) [الحشر: ۱۰].

* ﴿رَبَّنَآ أَتۡمِمۡ لَنَا نُورَنَا وَٱغۡفِرۡ لَنَآۖ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ قَدِيرٞ ٨﴾ [التحريم: ۸].

(اې زمونږ پالونکيه! زمونږ رڼا بشپړه کړه او مونږ ته بښنه وکړه، ته د هر څه وس او واک لرې.) [التحريم: ۸].

* ﴿رَبَّنَآ إِنَّنَآ ءَامَنَّا فَٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَقِنَا عَذَابَ ٱلنَّارِ ١٦﴾ [آل عمران: ١٦].

(اې زمونږ پالونکيه! مونږ ايمان راوړی، زمونږ له ګناهونو را تېر شه او مونږ د دوزخ له اوره وژغوره.) [آل عمران: ١٦].

* ﴿رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤٧﴾ [آل عمران: ١٤٧].

(اې زمونږ پالونکيه! زمونږ تېروتنې او ګناهونه او زمونږ په کار کې زمونږ تېری را وبښه، زمونږ قدمونه محکم کړه او پر کافرانو زمونږ د برلاسۍ لپاره راسره مرسته وکړه.) [آل عمران: ١٤٧].

* ﴿رَبَّنَا وَسِعۡتَ كُلَّ شَيۡءٖ رَّحۡمَةٗ وَعِلۡمٗا فَٱغۡفِرۡ لِلَّذِينَ تَابُواْ وَٱتَّبَعُواْ سَبِيلَكَ وَقِهِمۡ عَذَابَ ٱلۡجَحِيمِ ٧﴾ [غافر: ٧].

(اې زمونږ پالونکيه! ته په خپله لورېينه او په خپله پوهه پر هر څه چاپېر يې، نو هغه کسانو ته ببښنه وکړه، او د دوزخ له اوره يې وژغوره چې توبه يې اېستلې ده، او ستا لاره يې غوره کړې ده.) [غافر: ٧].

* ﴿رَبِّ إِنِّي ظَلَمۡتُ نَفۡسِي فَٱغۡفِرۡ لِي﴾ [القصص: ١٦].

(اې زما پالونکيه! ما پر ځان ظلم کړی، ماته ښښنه وکړه.[القصص: ١٦].

* ﴿رَّبِّ ٱغۡفِرۡ وَٱرۡحَمۡ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلرَّٰحِمِينَ ١١٨﴾ [المؤمنون: ١١٨].

(زما پالونکيه! ښښنه وکړه، او رحم وکړه، او ته تر ټولو رحم کوونکو غوره رحم کوونکی يې.) [المؤمنون: ١١٨].

١) «وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضَ حَنِيفـًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ، إِنَّ صَلَاتِي، وَنُسُكِي، وَمَحْيَايَ، وَمَمَاتِي، للهِ رَبِّ العَالَمِينَ، لَا شَرِيكَ لَهُ؛ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ. اللَّهُمَّ أَنْتَ المَلِكُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي، فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعـًا، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الأَخْلَاقِ، لَا يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلَّا أَنْتَ، وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا، لَا يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلَّا أَنْتَ، لَبَّيْكَ وَسَعْدَيْكَ، وَالخَيْرُ كُلُّهُ فِي

يَدَيْكَ، وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ، أَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ، تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ».

۱- ما خپل مخ هغه ذات ته وګرځوو چې آسمانونه او ځمکه يې پيدا کړي، په داسې حال کې چې د حق دين ملګرى يم، او له مشرکانو څخه نه يم، په رښتيا زما لمونځ او قرباني، او ژوند او مرګ يوازې د هغه الله لپاره دى چې د مخلوقاتو پالونکى دى، شريک نه لري، او ماته پردې امر شوى، او زه له مسلمانانو څخه يم. اې الله! ته پاچا يې، پرته له تا نه بل د عبادت وړ معبودنشته، ته زما پالونکى يې، او زه دې بنده يم، په خپل ځان مې ظلم کړى، او په خپله ګناه اقرار کوم، نو زما ټول ګناهونه راته وبښې، په رښتيا چې ګناهونه له تا پرته بل څوک نشي ښبلى، د ښو خويونو لارښوونه راته وکړې، او ښو خويونو ته يوازې ته لارښوونه کوې، او له بدو خويونو مې لرې کړې، بد خويونه يوازې ته لرې کولى شې، ستا بلنه مې ومنله، او ستا خدمت ته ولاړ يم، خير ټول ستا په لاسونو کې دى، او شر تا لره شر نه دى،او په تا مې بروسه ده، او تاته به درځم، ته د برکت څښتن يې او اوچت يې، له تا ښښنه غواړم، او تا ته توبه باسم.

٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ يَا اللهُ، الأَحْدُ الصَّمَدُ، الَّذِي لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ، وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُواً أَحَدٌ؛ أَنْ تَغْفِرَ لِي ذُنُوبِي، إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ».

٢- اې الله! زه ستا څخه سوال کوم په دې چې زه ددې ګواهي ورکوم چې همدا ته الله یې،نشته د عبادت وړ مګر همدا ته یې،ایکي یو او بې نیازه یې، هغه ذات یې چې نه له چا زیږېدلی او نه له هغه څوک زیږېدلي، او هیڅوك هغه لره سیال نشته.

٣) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي وَجَهْلِي، وَإِسْرَافِي فِي أَمْرِي، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي جِدِّي وَهَزْلِي، وَخَطَئِي وَعَمْدِي، وَكُلُّ ذَلِكَ عِنْدِي، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ المُقَدِّمُ وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ، وَأَنْتَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ».

٣- (اې الله! زما تېروتنه او زما ناپوهي راته و ښښه، او په معاملاتو کې زما تیرى او هره هغه ګناه راته وبښه چې له ما څخه تاته ښه معلومه ده، اې الله! ماته زما هغه ګناه وبښه چې ما له زړه څخه کړې او ما د ټوکو په حالت کې کړې، او کومه چې ما په تېروتنه کړې او کومه چې ما په قصد(لوی لاس ) کړې، اې الله! زما هغه

ګناهونه وبښي کوم چې ما وړاندې کړي او کوم چې ما وروسته کړي، او کوم چې ما پټ کړي او کوم چې ما په ښکاره کړي، او پر کومو چې ته زما څخه ښه خبر يې، ته وړاندې کوونکی يې او ته وروسته کوونکی يې، او ته پر هر څه وس او واک لرې.

٤) «اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْماً كَثِيراً، وَلَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي، إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ».

۴- اې الله! ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی دی، او پرته له تا بل څوک ګناهونه نشي ښنلی، نو ماته له خپل لوري ښننه وکړه، او پر ما رحم وکړه، په رېښتيا همدا ته ښښونکی مهربان يې.

٥) «اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي مِنَ الذُّنُوبِ وَالخَطَايَا، اللَّهُمَّ نَقِّنِي مِنْهَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ، اللَّهُمَّ طَهِّرْنِي بِالثَّلْجِ وَالبَرَدِ وَالمَاءِ البَارِدِ».

۵- اې الله! ما له ګناهونو او تېروتنو پاک کړه، ما له خپلو ګناهونو داسې پاك کړه لکه څنګه چې سپينه جامه له خيرو پاکه کړای شي، اې الله! ما له ګناهونو په واوره او اوبو او ږلۍ ووينځه.

٦) «اللّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَوَسِّعْ لِي فِي دَارِي، وَبَارِكْ لِي فِيمَا رَزَقْتَنِي».

٦- اې الله! ماته زما ګناه را وبښه، او ماته زما کور پراخه کړه، او ماته په راکړې روزۍ کې برکت واچوه،

٧) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذُنُوبِي وَخَطَايَايَ كُلَّهَا، اللَّهُمَّ أَنْعِشْنِي، وَاجْبُرْنِي وَاهْدِنِي لِصَالِحِ الأَعْمَالِ وَالأَخْلَاقِ، فَإِنَّهُ لَا يَهْدِي لِصَالِحِهَا، وَلَا يَصْرِفُ سَيِّئَهَا، إِلَّا أَنْتَ».

٧- اې الله! زما ټول ګناهونه او تېروتنې وبښه، اې الله! ما (له ستونزو) پورته (را اوباسه) او پیاوړی مې کړه، او زما نقصان پوره کړه، او نیکو عملونو او ښو خویونو ته مې لارښوونه و کړه، بیشکه ښو کارونو او اخلاقو ته لارښوونه او له بدو یې لرې کول ستا پرته بل څوک نشي کولی.

٨) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاجْبُرْنِي، وَارْفَعْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي، وَارْزُقْنِي».

٨- اې الله! ما ته ببښنه وکړه، او په ما رحم وکړه، او نقصان مې پوره کړه او ما (مقام مې) اوچت کړه او هدایت راته وکړه،، او ما ته عافیت را کړه، او روزي راته را کړه.

٩) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَأَخْسِئْ شَيْطَانِي، وَفُكَّ رِهَانِي، وَثَقِّلْ مِيزَانِي، وَاجْعَلْنِي فِي النَّدِيِّ الأَعْلَى».

٩- اې الله! ګناه مې وبښه، او شیطان مې را څخه ذلیله وشړه، او د (ګناهونو او قرض) د ګروګانی څخه مې خلاص کړه، او (د نیکو اعمالو) تله مې درنه کړه، او ما (په ورځ د قیامت) له پورته مجلس (ملأ الأعلى)څخه وګرځوه.

١٠) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي كُلَّهُ، دِقَّهُ وَجِلَّهُ، وَأَوَّلَهُ وَآخِرَهُ، وَعَلَانِيَتَهُ وَسِرَّهُ».

١٠- اې الله! زما ټول ګناهونه وبښه، واړه او لوی، لومړني او وروستني، ښکاره اوپټ.

١١) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا أَخْطَأْتُ وَمَا تَعَمَّدْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا جَهِلْتُ وَمَا عَلِمْتُ».

١١- اې الله! ماته هغه ګناوې وبښه کومې چې ما په خطا سره کړې او کومې چې ما په قصد سره کړې، او کومې چې ما په پټه سره کړې، او کومې چې ما په ښکاره سره کړې، او کومې چې ما په ناپوهۍ سره کړې او کومې چې ما په پوهه سره کړې.

۱۲) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي ذَنْبِي، وَخَطَئِي، وَعَمْدِي».

۱۲- اې الله! ماته زما ګناه وبښه، او (ماته) زما خطا او قصدي (ګناه) وبښه.

۱۳) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ، وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ، وَمَا أَسْرَفْت، وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّي، أَنْتَ المُقَدِّمُ وَأَنْتَ المُؤَخِّرُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ».

۱۳- اې الله! زما هغه ګناه وبښه چې ما وړاندې کړې او هغه چې وروسته مې کړې، په پټه مې کړې او په ښکاره مې کړې ده، او هغه څه چې ما پکې اسراف او زیات والی کړی، او هغه (ګناه) چې ته په هغه له ما څخه ښه خبر یې، ته وړاندې (مخکې) کونکی یې او ته وروسته کونکی یې، بې له تا نه بل د عبادت وړ معبود نشته.

۱٤) «اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ، ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي، يَا رَبِّ فَاغْفِرْ لِي ذَنْبِي، إِنَّكَ أَنْتَ رَبِّي، إِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذَّنْبَ إِلَّا أَنْتَ».

۱۴- اې الله! ته مې پالونکی یې، او زه دې بنده یم، ما پر خپل

ځان ظلم کړی، او زه په خپله ګناه اقرار کوم، اې زما پالونکیه! نو ماته مې ګناه وبښه، بیشکه همدا ته مې پالونکی یې، یوازې ته ګناه ببښې.

١٥) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِلْمُؤْمِنِينَ وَالمُؤْمِنَاتِ».

١٥-اې الله! مؤمنو نارینه او ښځینه وو ته بښنه وکړې

١٦) «اللَّهُمَّ اغْفِرْ ذَنْبِي، وَطَهِّرْ قَلْبِي، وَحَصِّنْ فَرْجِي».

١٦- اې الله! زما ګناه وبښه، او زما زړه پاک کړه، او زما شرمځای وساته(ما پاک لمنی کړه).

١٧) «رَبِّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ».

١٧- اې زما پالونکیه! ماته مې تېروتنه د بدلې (قیامت) په ورځ وبښه.

١٨) «رَبِّ اغْفِرْ لِي وَتُبْ عَلَيَّ، إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ».

١٨- اې زما پالونکیه! ماته بښنه وکړه، او زما توبه قبوله کړه، بیشکه همدا ته توبه قبلوونکی او مهربانه یې.

١٩) «أَسْتَغْفِرُ اللهَ العَظِيمَ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الحَيُّ القَيُّومُ، وَأَتُوبُ إِلَيْهِ».

١٩- له هغه لوی او عظمت والا الله ببښنه غواړم، چې له هغه پرته بل د عبادت وړ (معبود) نشته، ژوندی دی، (د کایناتو) تدبیروونکی دی، او زه هغه ته توبه باسم.

٢٠) «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَك اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ».

٢٠- پاک دی الله، او هغه لره غوره ستاینه ده، اې الله! تا په پاکی سره یادوم،او ستا پوره ستاینه کوم، زه شاهدي ورکوم، چې له تا پرته بل د عبادت وړ نشته، زه درڅخه ببښنه غواړم، او تا ته توبه کوم.

٢١) «سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ للهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ».

٢١- پاك دی الله، پوره ستاینه الله ﷻ لره ده، نشته لایق د عبادت مگر یوازې یو الله ﷻ دی، او الله ﷻ ډیر لوی (ذات) دی.

٢٢) «سُبْحَانَ اللهِ، وَالحَمْدُ للهِ، وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَاللهُ أَكْبَرُ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي، اللَّهُمَّ ارْحَمْنِي، اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي».

٢٢- پاك دی الله ﷻ، پوره ستاینه الله ﷻ لره ده، نشته لایق د

عبادت مگر یوازې یو الله ﷻ دی، او الله ﷻ ډېر لوی (ذات) دی. اې الله! پر ما رحم وکړه، اې الله! ماته روزي راکړه.

۲۳) «سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ».

۲۳- پاک دی الله ﷻ، او هغه لره غوره ستاینه ده.

۲٤) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الحَلِيمُ الكَرِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ العَلِيُّ العَظِيمُ، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَرَبِّ العَرْشِ العَظِيمِ، الحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِينَ».

۲۴- بل د عبادت وړ نشته له هغه الله ﷻ پرته چې لوی او حلم لرونکی دی، بل د عبادت وړ نشته بې له الله ﷻ څخه چې د لوی عرش څښتن دی، بل د عبادت وړ نشته له الله ﷻ پرته چې د آسمانونو او ځمکې پالونکی دی، او د عزتمند عرش څښتن دی.

۲٥) اللَّهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ ﷺ.

۲٥- اې الله! درود او سلام او برکت ولېږه، زمونږ پر نبي محمد ﷺ باندې.

* * *

# تـذكــر...

## په یاد کړه ....

أي مذخورٍ قد حوته كلمات الاستغفار تلك... إنه:

چې داستغفار تېرو اذکارو کې څومره ښېګڼې پرتې وې.... بیشکه:

❁ اسْتِغْفَارٌ به سيغفر الله لك ذنوبك مهما بلغت.

دا د ښېنې داسې اذكار وو چې په دې سره به الله ستا ګناهونه وښښي هر څومره که ډېر هم وي.

❁ اسْتِغْفَارٌ قد استحق وصفَ: (أوفق الدعاء).

داسې استغفار و چې تر ټولو په ښه(مقبوله) دعا ونومول شو.

❁ اسْتِغْفَارٌ يغفر الله به الذنب، ولو كان الفرار من الزحف.

داسې استغفار و چې له دې لارې الله هره ګناه ښښي اګر که دجنګ له میدان څخه د تېښتې ګناه هم وي.

❁ اسْتِغْفَارٌ قال فيه النبي ﷺ لعلي رضي الله عنه: «إذا قلته غفر لك، مع أنه مغفور لك».

داسې استغفار و چې په اړه يې نبي ﷺ علي ﷺ ته وفرمايل: (چې کله دا ووايې نو ښښنه به درته وشي،او که ښښنه درته شوې وي(نو درجات به د لوړ شي)).

* اسْتِغْفَارٌ يجعل ذنوبك تتساقط من صحيفتك كما يتساقط الورق من الشجر.

داسې استغفار و چې ستا ګناهونه به ستا له پاڼې داسې توی کړي لکه له ونې چې پاڼې تويږي.

* اسْتِغْفَارٌ سيخاطبك الله – جل شأنه – قائلا لك (قد فعلت).

داسې استغفار و چې په پايله کې به الله ﷻ په خطاب کې داسې درته وايي (په رښتيا ما وبښلې).

* اسْتِغْفَارٌ يغفر الله به الذنوب وإن كانت مثل زَبَدِ البحر.

د استغفار داسې اذکار وو چې د هغې له لارې الله ګناهونه ښبي که څه هم د بحر د ځک په اندازه هم وي.

* اسْتِغْفَارٌ به سَتُسَرُّ بصحيفتك يوم القيامة –بإذن الله–.

داسې استغفار چې له امله به يې د قيامت په ورځ – که د الله خوښه وي- تا خپله پاڼه خوشحاله کړي.

❇ اسْتِغْفَارٌ سيكون كالطابع للمجلس.

داسې استغفار چې د مجلس لپاره د مهر حیثیت لري (یعني که مجلس کې یې ښه کار ترسره کړی وي، اجر به یې ورته ثابت وي ضایع کیږي به نه او که ګناه یې کړې وي نو د هغې لپاره به ورته کفاره وګرځي).

❇ اسْتِغْفَارٌ حَصَلَ ببركة الإكثار من الصلاة على الحبيب ﷺ القائل لمن أكثر الصلاة عليه «إذاً تكفى همك، ويغفر لك ذنبك» رواه الترمذي (٢٤٥٧)، وحسنه الألباني.

داسې استغفار چې پر حبیب ﷺ د زیات درود ویلو په پایله کې ترلاسه کیږي، لکه یو کس نبي عليه السلام ته وویل چې زه ټول وخت پر تا درود وایم نو رسول عليه السلام ورته وفرمایل: (نو ستا (د دنیا او آخرت) ټول غمونه به حل شي او ګناهونه به درته وبښل شي.) ترمذي (٢٤٥٧) روایت کړی، او الباني حسن ګڼلی.

❇ فطوبى لمن وجد في صحيفته استغفاراً كثيراً...

نو زیری د وي هغه چا ته چې په خپله صحیفه کې زیات استغفار مومي.....

❇ ❇ ❇

# وِرْدُ السؤالات

## له الله څخه د غوښتنو ورد

## أيها القلب: تهيأ لسؤالكَ الله تعالى

## اې زړه: له الله غوښتنې ته چمتو شه

ماذا بعد ما أثنيت على الله، وصليت على الحبيبﷺ، واستغفرت من ذنوبك، إلا أن ترفع مطلوبك في أدعيةٍ ليس مثلها أدعيةٌ...

تا چې د الله ستاينه وکړه، او پر حبيب ﷺ دې درود ووېلو، او د خپلو ګناهونو ښښنه دې وغوښته، نو غوښتنې دې په دې بې مثاله دعا ګانو کې الله ته پورته شوې....

أدعيةٌ قالها يومـاً أعرف خلق الله بالله.. فقبلها الله منه...

داسې (بې مثاله) دعاګانې چې يوه ورځ دا (دعا ګانې) د الله په مخلوقاتو کې تر ټولو زيات الله پېژندونکي کس ويلې وې.... نو الله له هغه څخه قبولې کړې...

بين يديك الآن خير دعاءٍ، رُفِعَ على ألسنة الأنبياء، وعلى لسان سيدهمﷺ.

اوس ستا په مخکې داسې غوره دعاګانې دي چې انبياء

كرامو او د هغوی د سردار ﷺ پر ژبه (الله ته) پورته شوې.

قُلْهُ. . . والله يسمعك ويراك من فوق سبع سماواته وأنت تدعوه.

ته يې هم ووايه .... ته چې كله الله ته دعا كوې نو هغه دې له اوو آسمانونه پورته څخه اوري اوويني.

قُلْهُ . . . واعلم أنه لا ينقصك للقبول إلا أن ترفعه بقلبك المتضرع المضطر . . .

ويې وايه .... او په دې پوه شه چې د قبليدو لپاره يې يوازې ديته اړتيا لرې چې د مجبور او عاجز زړه څخه يې (الله ته) پورته كړې.....

ثم أبشر بالإجابة..

نو بيايې د قبليدو زيري ته منتظر اوسه...

***

## وِرْدُ السؤالات

### (له الله څخه) د غوښتنو اوراد

* ﴿رَبَّنَا تَقَبَّلۡ مِنَّآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ١٢٧﴾ [البقرة: ١٢٧].

(اې زموږ پالونکيه! له موږ دا (خدمت) قبول کړه، ته ښه اوريدونکی او ښه پوه يې.) البقرة: ١٢٧].

* ﴿وَتُبۡ عَلَيۡنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ﴾ [البقرة: ١٢٨].

(او زموږ توبه قبوله کړه، ته لوی توبه قبلوونکی او رحم کوونکی يې.) [البقرة: ١٢٨].

* ﴿رَبِّ ٱجۡعَلۡنِي مُقِيمَ ٱلصَّلَوٰةِ وَمِن ذُرِّيَّتِيۚ رَبَّنَا وَتَقَبَّلۡ دُعَآءِ ٤٠﴾ [إبراهيم: ٤٠].

(اې زما پالونکيه! ما د لمانځه قائموونکی وګرځوه او زما له اولاد څخه هم (داسي خلک را پورته کړه چي دغه عبادت اداء کړي) زموږ پالونکيه! زما دا دعا قبوله کړه.) [إبراهيم: ٤٠].

* ﴿رَبِّ هَبۡ لِي حُكۡمٗا وَأَلۡحِقۡنِي بِٱلصَّٰلِحِينَ ٨٣ وَٱجۡعَل لِّي لِسَانَ صِدۡقٖ فِي ٱلۡأٓخِرِينَ ٨٤ وَٱجۡعَلۡنِي مِن وَرَثَةِ جَنَّةِ ٱلنَّعِيمِ ٨٥﴾ [الشعراء: ٨٣-٨٥].

(اې زما پالونکيه! ماته حکم راوښيه او ما له نېکانو سره يو ځای کړه، او په وروسته نسلونو کې رښتيا نومياليتوب را په برخه کړه، او ما د نعمتونو د جنت له وارثانو څخه وګرځوه.) [الشعراء: ٨٣-٨٥].

* ﴿وَلَا تُخۡزِنِي يَوۡمَ يُبۡعَثُونَ ٨٧﴾ [الشعراء: ٨٧].

(او ما په هغه ورځ مه رسوا کوه چې کله ټول خلک ژوندي راپاڅول کيږي.) [الشعراء: ٨٧].

* ﴿رَّبِّ زِدۡنِي عِلۡمٗا﴾ [طه: ١١٤].

(اې زما پالونکيه! ماته لا زيات علم راکړه.) [طه: ١١٤].

* ﴿رَبَّنَا لَا تُزِغۡ قُلُوبَنَا بَعۡدَ إِذۡ هَدَيۡتَنَا وَهَبۡ لَنَا مِن لَّدُنكَ رَحۡمَةًۚ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡوَهَّابُ ٨﴾ [آل عمران: ٨].

اې زموږ پالونکيه! کله چې تا موږ ته لارښوونه کړې ده، نو

بیا مو هیڅکله زړونه مه کږوه، مونږ ته د خپلې پېرزوینې له زېرمې رحمت را په برخه کړه، چې همدا ته حقیقي لورونکی یې.) [آل عمران: ۸].

* ﴿رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ٧٤﴾ [الفرقان: ٧٤].

(اې زموږ پالونکیه! مونږ ته له خپلو مېرمنو او اولادونو څخه د سترګو یخوالی راکړه او مونږ پرهیزګارانو امامان وګرځوه.) [الفرقان: ٧٤].

* ﴿رَبِّ إِنِّي لِمَآ أَنزَلۡتَ إِلَيَّ مِنۡ خَيۡرٖ فَقِيرٞ﴾ [القصص: ٢٤]

(اې زما پالونکیه! هره ښیګڼه چې تا پر ما نازله کړې، زه هغې ته اړیم.) [القصص: ٢٤]

* ﴿رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [الأعراف: ٤٧].

(اې زموږ پالونکیه! مونږ له دې ظالمانو مه ګرځوه) [الأعراف: ٤٧].

❁ ﴿رَبِّ أَوۡزِعۡنِيٓ أَنۡ أَشۡكُرَ نِعۡمَتَكَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتَ عَلَيَّ وَعَلَىٰ وَٰلِدَيَّ وَأَنۡ أَعۡمَلَ صَٰلِحٗا تَرۡضَىٰهُ وَأَصۡلِحۡ لِي فِي ذُرِّيَّتِيٓۖ إِنِّي تُبۡتُ إِلَيۡكَ وَإِنِّي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ﴾ [الأحقاف: ١٥].

(اې زما ربه! ماته ونښیه چې زه ستا د هغې لورېینې شکر وکړم چې تا پر ما او زما پر مور او پلار کړې ده،او داسې نیک عمل وکړم چې ستا خوښ شي او په خپل رحمت سره ما په خپلو صالحو بندګانو کې داخل کړه.) [الأحقاف: ١٥].

١) «اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ كُلُّهُ، اللَّهُمَّ لَا قَابِضَ لِمَا بَسَطْتَ، وَلَا بَاسِطَ لِمَا قَبَضْتَ، وَلَا هَادِيَ لِمَنْ أَضْلَلْتَ، وَلَا مُضِلَّ لِمَنْ هَدَيْتَ، وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ، وَلَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ، وَلَا مُقَرِّبَ لِمَا بَاعَدْتَ، وَلَا مُبَاعِدَ لِمَا قَرَّبْتَ، اللَّهُمَّ ابْسُطْ عَلَيْنَا مِنْ بَرَكَاتِكَ وَرَحْمَتِكَ وَفَضْلِكَ وَرِزْقِكَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ المُقِيمَ الَّذِي لَا يَحُولُ وَلَا يَزُولُ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ النَّعِيمَ يَوْمَ العَيْلَةِ، وَالأَمْنَ يَوْمَ الخَوْفِ، اللَّهُمَّ إِنِّي عَائِذٌ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا أَعْطَيْتَنَا، وَشَرِّ مَا مَنَعْتَنَا، اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا الإِيمَانَ وَزَيِّنْهُ فِي قُلُوبِنَا، وَكَرِّهْ إِلَيْنَا الكُفْرَ وَالفُسُوقَ وَالعِصْيَانَ، وَاجْعَلْنَا مِنَ

الرَّاشِدِينَ، اللَّهُم توَفَّنَا مُسْلِمِينَ، وَأَحْيِنَا مُسْلِمِينَ، وَأَلْحِقْنَا بِالصَّالِحِينَ غَيْرَ خَزَايَا وَلَا مَفْتُونِينَ، اللَّهُمَّ قَاتِلِ الكَفَرَةَ الَّذِينَ يُكَذِّبُونَ رُسُلَكَ وَيَصُدُّونَ عَنْ سَبِيلِكَ، وَاجْعَلْ عَلَيْهِمْ رِجْزَكَ وَعَذَابَكَ، اللَّهُمَّ قَاتِلِ الكَفَرَةَ الَّذِينَ أُوتُوا الكِتَابَ؛ إِلَهَ الحَقِّ».

١- اې الله! تالره ټوله ستاینه ده، اې الله! څه چې ته پراخه کړې د هغې څوک مخه نشي نيولی، او څه چې ته تنګ کړې د هغې څوک پراخوونکی نشته، څوک چې ته ګمراه کړې هغه ته څوک هدايت کونکی(لارښوونکی) نشته، او چا ته چې هدايت وکړې(لار وښيې) هغه لره څوک ګمراه کونکی نشته، څه چې ته منعه کړې د هغې څوک ورکوونکی نشته، او څه چې ته ورکوې د هغې څوک منعه کوونکی نشته، او نشته نيږدې کوونکی هغه څه لره چې تا لرې کړي وي، او نشته لرې کوونکی هغه څه لره چې تا نيږدې کړي، اې الله! مونږ ته خپل برکتونه، رحمت، فضل او خپله روزي په پراخ ډول راکړه، اې الله! زه له تا د هغه تلپاتې نعمتونو سوال کوم، چې نه بدليږي او نه هم ختميږي، اې الله! زه له تا د تنګۍ(سختۍ) په ورځ د نعمت، او د ويرې په ورځ د امن غوښتنه کوم، اې الله! زه په تا سره د هغه څه له شره پنا غواړم کوم چې تا مونږ ته راکړي، او

کوم چې تا له مونږ څخه منعه کړي، اې الله! مونږ ته ایمان محبوب (خوښ) وګرځوه او هغه زمونږ په زړونو کې ښایسته کړه، او مونږ ته کفر، او فسق اوګناه ناخوښه وګرځوه او مونږ د لارموندونکو له ډلې وګرځوه.اې الله! مونږ د اسلام په حال کې وفات کړه، او د اسلام په حال کې ژوند راکړه، او مونږ له صالحانو سره په داسې حال کې یو ځای کړه چې نه رسوا شوي وو او نه هم د فتنې ښکار شوي وو. اې الله! هغه کافران هلاک کړه کوم چې ستا د رسولانو تکذیب کوي او ستا له لارې منعه کول کوي، او پر هغوی خپله سزا او خپل عذاب مسلط کړه، اې الله! هغه کافران هلاک کړه چاته چې کتاب ورکړل شوی، اې په حقه معبوده!

۲) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الحَمْدُ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، وَحْدَكَ لَا شَرِيكَ لَكَ، المَنَّانُ، يَا بَدِيعَ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ، يَا ذَا الجَلَالِ وَالإِكْرَامِ، يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ، إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ».

۲- اې الله زه درنه غوښتنه کوم په دې چې تا لره ټوله ستاینه ده، له تا پرته بل څوک د عبادت وړ معبود نشته، ته زیات احسان کوونکی یې، د آسمانونو او ځمکې بې ساري پیدا کوونکی یې، اې د لویی او عزت ورکولو څښتنه، ای د بشپړ ژوند څښتنه! ای د

کایناتو تدبیروونکیه! زه له تا د جنت غوښتنه کوم او له تا د اوره پنا غواړم.

۳) «اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي، وَوَسِّعْ عَلَيَّ فِي ذَاتِي، وَبَارِكْ لِي فِي رِزْقِي».

۳- اې الله! ماته زما دين برابر (درست) کړه، او پر ما پراختيا راوله، او ماته په رزق کې برکت راکړه.

٤) «اللَّهُمَّ بِعِلْمِكَ الغَيْبَ، وَقُدْرَتِكَ عَلَى الخَلْقِ، أَحْيِنِي مَا عَلِمْتَ الحَيَاةَ خَيْراً لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الوَفَاةُ خَيْراً لِي، اللَّهُمَّ وَأَسْأَلُكَ خَشْيَتَكَ فِي الغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ، وأَسْأَلُكَ كَلِمَةَ الحَقِّ وَالعَدْلِ فِي الغَضَبِ وَالرِّضَى، وَأَسْأَلُكَ القَصْدَ فِي الفَقْرِ وَالغِنَى، وَأَسْأَلُكَ نَعِيماً لَا يَبِيدُ، وَأَسْأَلُكَ قُرَّةَ عَيْنٍ لَا تَنْفَدُ وَلَا تَنْقَطِعُ، وَأَسْأَلُكَ الرِّضَى بَعْدَ القَضَاءِ، وَأَسْأَلُكَ بَرْدَ العَيْشِ بَعْدَ المَوْتِ، وَأَسْأَلُكَ لَذَّةَ النَّظَرِ إِلى وَجْهِكَ، وَأَسْأَلُكَ الشَّوْقَ إِلَى لِقَائِكَ، فِي غَيْرِ ضَرَّاءَ مُضِرَّةٍ وَلَا فِتْنَةٍ مُضِلَّةٍ، اللَّهُمَّ زَيِّنَّا بِزِينَةِ الإِيمَانِ، وَاجْعَلنَا هُدَاةً مُهْتَدِينَ».

۴- اې الله! په خپل علم غيب او پر مخلوق د خپل قدرت سره ما تر هغه ژوندی لره ترڅو چې ژوند زما لپاره غوره وي، او ما هغه وخت مړ کړه کله چې زما لپاره مرگ غوره وي. اې الله! زه له تا څخه په ښکاره او پټه کې ستا د وېرې غوښتنه کوم، او د خوښۍ او غوسې په حالت کې د حق ويلو غوښتنه کوم، او له تا څخه د نه ختميدونکي نعمت او د سترگو لپاره د نه پرې کېدونکي يخوالي غوښتنه کوم، او ستا څخه ستا په کړې پرېکړه د خوښۍ او له مرگ وروسته د سلامتۍ د ژوند، او ستا

مخ ته د کتلو د خوند او ستا ملاقات ته د لېوالتیا غوښتنه کوم، او له تا د دې پنا غواړم چې کوم زیانمن تکلیف او یا لار ورکوونکې فتنه راته ورسیږي، اې الله! مونږ د ایمان په ښایست ښایسته کړه او مونږ لارموندونکي او لارښوونکي جوړ کړه.

٥) «اللَّهُمَّ أَصْلِحْ لِي دِينِي الَّذِي هُوَ عِصْمَةُ أَمْرِي، وَأَصْلِحْ لِي دُنْيَايَ الَّتِي فِيهَا مَعَاشِي، وَأَصْلِحْ لِي آخِرَتِي الَّتِي فِيهَا مَعَادِي، وَاجْعَلِ الحَيَاةَ زِيَادَةً لِي فِي كُلِّ خَيْرٍ، وَاجْعَلِ المَوْتَ رَاحَةً لِي مِنْ كُلِّ شَرٍّ».

٥- اې الله! ماته زما دا دین سم وګرځوه کوم چې زما د ټولو کارونو ساتونکی دی، او ماته زما دنیا سمه کړه په کومه کې چې زما ژوند دی، او ماته زما آخرت سم کړه چېرته چې زما ورتګ دی، او ما ته ژوند د خیر په هر کار کې د ډېروالي لامل وګرځوه او مرګ ماته له هر شره د راحت لاره وګرځوه.

٦) « اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمـًا نَافِعـًا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ».

٦- اې الله! زه له تا د ګټور علم غوښتنه کوم، او په تا له بې ګټې علم پنا غواړم.

٧) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الفِرْدَوْسَ الأَعْلَى مِنَ الجَنَّةِ».

٧- اې الله! زه له تا په جنت کې د لوړ جنت فردوس غوښتنه کوم.

٨) «اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ، اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ، اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ».

٨- اې الله! ما د دوزخ له اوره وساته، اې الله! ما د دوزخ له اوره وساته، اې الله! ما د دوزخ له اوره وساته.

٩) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ».

٩- اې الله! زه له تا څخه د جنت غوښتنه کوم، اې الله! زه له تا څخه جنت غواړم، اې الله! زه له تا جنت غواړم.

١٠) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ المُعَافَاةَ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ».

١٠- اې الله! زه له تا په دنيا او آخرت کې د عافيت (سلامتۍ) غوښتنه کوم

۱۱) «اللَّهُمَّ حَاسِبْنِي حِسَابـًا يَسِيراً».

۱۱- اې الله! له ما سره (د قيامت په ورځ) آسانه حساب وکړه.

۱۲) «اللَّهُمَّ اهْدِنِي وَسَدِّدْنِي».

۱۲-اې الله! ماته لارښوونه وکړه او کارونه مې برابر کړه.

۱۳) «اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مِسْكِينـًا، وَأَمِتْنِي مِسْكِينـًا، وَاحْشُرْنِي فِي زُمْرَةِ المَسَاكِينِ يَوْمَ القِيَامَةِ».

۱۳- اې الله! ما ته داسې ژوند راکړه چې تا ته پکې محتاجه (عاجز) وم، او تاته مې د محتاجۍ (عاجزۍ) په حالت کې وفات کړه،او په ورځ د قيامت مې د عاجزو خلکو په ټولي کې راپورته کړه.

١٤) «اللَّهُمَّ احْفَظْنِي بِالإِسْلَامِ قَائِمـًا، وَاحْفَظْنِي بِالإِسْلَامِ قَاعِداً، وَاحْفَظْنِي بِالإِسْلَامِ رَاقِداً، وَلَا تُشْمِتْ بِي عَدُوّاً حَاسِداً، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ كُلِّ خَيْرٍ خَزَائِنُهُ بِيَدِكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ كُلِّ شَرٍّ خَزَائِنُه بِيَدِكَ».

۱۴- اې الله! په اسلام سره مې ساتنه وکړه په داسې حال کې چې زه ولاړ وم، او په اسلام مې ساتنه وکړه په داسې حال کې چې زه ناست وم، او په اسلام سره زما ساتنه وکړه په داسې حال کې چې زه ملاست وم، او پر ما د حسد کوونکي دښمن زړه مه يخه وه، اې الله په رېښتيا زه له تا د هغه ټول خير غوښتنه کوم چې خزانې يې ستا په لاس کې دي، او په تا سره د هغه ټول شر څخه پناه غواړم چې خزانې يې ستا په لاس کې دي.

١٥) «اللَّهُمَّ كَمَا حَسَّنْتَ خَلْقِي فَحَسِّنْ خُلُقِي».

۱۵- اې الله! لکه څنګه چې تا زما مخ (صورت) ښايسته کړی همداسې زما اخلاق هم ښايسته کړه.

١٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ اليَقِينَ وَالمُعَافَاةَ».

۱۶- اې الله! زه ستا نه د يقين (ايمان) او سلامتيا سوال کوم

۱۷) «اللَّهُمَّ جَدِّدِ الإِيمَانَ فِي قُلُوبِنَا».

۱۷- اې الله! زمونږ په زړونو کې ایمان تازه کړه.

۱۸) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الهُدَى وَالتُّقَى، وَالعَفَافَ وَالغِنَى».

۱۸- اې الله! زه له تا څخه د لارښوونې، تقوی، پاک لمنۍ او له خلکو څخه د بې نيازه کېدو سوال کوم.

۱۹) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ، فَإِنَّهُ لَا يَمْلِكُهَا إِلَّا أَنْتَ».

۱۹- اې الله! زه ستا نه ستا د فضل او رحمت سوال کوم، ځکه له تا پرته هغه (فضل او رحمت) د چا په واک کې نشته.

۲۰) «اللَّهُمَّ آتِنِي أَفْضَلَ مَا تُؤْتِي عِبَادَكَ الصَّالِحِينَ».

۲۰- اې الله! ما ته هغه غوره څه راکړه، کوم چې ته خپلو نیکو بنده ګانو ته ورکوې.

۲۱) «اللَّهُمَّ مُصَرِّفَ القُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ».

۲۱- اې الله! د زړونو ګرځوونکیه زمونږ زړونه ستا پیروۍ ته وګرځوه.

٢٢) «اللَّهُمَّ يَا مُقَلِّبَ القُلُوبِ، ثَبِّتْ قَلْبِي عَلَى دِينِكَ».

۲۲- اې الله! اې د زړونو اړوونکیه! زمونږ زړونه ستا په دین باندې ټینګ کړه.

٢٣) «اللَّهُمَّ هَبِ المُسِيئِينَ مِنَّا لِلْمُحْسنِينَ، وَأَعْطِ مُحْسِنَنَا مَا سَأَلَ».

۲۳- اې الله! زمونږ خخه بدي کوونکي د نیکي کوونکو له امله وبښه، او زمونږ نیکي کوونکي ته هغه څه ورکړه چې د هغو غوښتنه یې درنه کړې.

٢٤) «اللَّهُمَّ اقْسِمْ لَنَا مِنْ خَشْيَتِكَ مَا يَحُولُ بَيْنَنَا وَبَيْنَ مَعَاصِيكَ، وَمِنْ طَاعَتِكَ مَا تُبَلِّغُنَا بِهِ جَنَّتَكَ، وَمِنَ اليَقِينِ مَا تُهَوِّنُ بِهِ عَلَيْنَا مَصَائِبَ الدُّنْيَا، وَمَتِّعْنَا بِأَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُوَّتِنَا مَا أَحْيَيْتَنَا، وَاجْعَلْهُ الوَارِثَ مِنَّا، وَاجْعَلْ ثَأْرَنَا عَلَى مَنْ ظَلَمَنَا، وَانْصُرْنَا عَلَى مَنْ عَادَانَا، وَلَا تَجْعَلْ مُصِيبَتَنَا فِي دِينِنَا، وَلَا تَجْعَلِ الدُّنْيَا أَكْبَرَ هَمِّنَا، وَلَا مَبْلَغَ عِلْمِنَا، وَلَا تُسَلِّطْ عَلَيْنَا مَنْ لَا يَرْحَمُنَا».

۲۴- اې الله! مونږ ته خپله داسې ویره را په برخه کړه کومه چې زمونږ او ستا د سرغړونې تر منځ خنډ (مانع) وګرځي، او

مونږ ته خپله داسې پیروي را په برخه کړه د کومې له امله چې ته مونږ تر خپل جنت پورې ورسوې، او مونږ ته داسې یقین (ایمان) را په برخه کړه د کوم له امله چې ته پر مونږ د دنیا ستونزې آسانه کړې، اې الله! ته مونږ ته زمونږ د غوږونو، زمونږ د سترګو او د قوتونو په مرسته ګټه را ورسوه ترڅو چې ته مونږ ژوندي ساتې دا (حواس) زمونږ لپاره سلامت لره، او څوک چې پر مونږ ظلم کوي له هغوی څخه زمونږ غچ واخله، او څوک چې زمونږ سره دښمني کوي د هغوی پر خلاف زمونږ مرسته وکړه، او مونږ د دین په چارو (امورو) کې په فتنه کې مه اچوه، او دنیا زمونږ لپاره تر ټولو لویه موخه او د علم پای مه ګرځوه،او پر مونږ داسې څوک مه مسلط کوه چې پر مونږ رحم ونه لري.

٢٥) «اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى شُكْرِكَ، وَذِكْرِكَ، وَحُسْنِ عَبَادَتِكَ».

٢٥- اې الله! ما سره ستا په ذکر او شکر، او په ښه توګه ستا په عبادت کولو کې مرسته وکړه.

٢٦) «اللَّهُمَّ أَمْتِعْنِي بِسَمْعِي وَبَصَرِي حَتَّى تَجْعَلَهُمَا الوَارِثَ مِنِّي، وَعَافِنِي فِي دِينِي، وَفِي جَسَدِي، وَانْصُرْنِي مِمَّنْ ظَلَمَنِي

حَتَّى تُرِيَنِي فِيهِ ثَأْرِي، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْلَمْتُ نَفْسِي إِلَيْكَ، وَفَوَّضْتُ أَمْرِي إِلَيْكَ، وَأَلْجَأْتُ ظَهْرِي إِلَيْكَ، وَخَلَّيْتُ وَجْهِي إِلَيْكَ، لَا مَلْجَأَ وَلَا مَنْجَى مِنْكَ إِلَّا إِلَيْكَ، آمَنْتُ بِرَسُولِكَ الَّذِي أَرْسَلْتَ، وَبِكِتَابِكَ الَّذِي أَنْزَلْتَ».

۲٦- اې الله! ماته زما په غوږونو او سترګو ګټه را ورسوه، او دا دواړه زما وارث وګرځوه(د ژوند تر آخره يې راته سلامت لره)، او ماته زما په دين او بدن کې سلامتيا را په برخه کړه، او څوک چې پر ما ظلم وکړي د هغوی پر خلاف زما سره مرسته وکړه او له هغوی څخه زما غچ واخله، اې الله! ما خپل ځان تا ته تسليم کړ، او خپل کار مې تا ته و سپاره، او خپله شا مې تا ته تکيه کړه، او خپل مخ مې تاته و ګرځاوه، بيله تا بل د ژغورلو او پناه ځای نشته، ايمان مې راوړ ستا پر هغه کتاب چې تا نازل کړی، او ستا پر هغه رسول چې تا (مونږ ته) استولی دی.

۲۷) «اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ كَرِيمٌ، تُحِبُّ العَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي».

۲۷- اې الله! بيشکه ته ښښونکی يې، ښښنه خوښوې نو ماته ښښنه وکړه.

۲۸) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ إِيمَانـًا لَا يَرْتَدُّ، وَنَعِيمـًا لَا يَنْفَدُ، وَمُرَافَقَةَ مُحَمَّدٍ فِي أَعْلَى جَنَّةِ الخُلْدِ».

۲۸- اې الله! زه ستا نه د د اسې ايمان غوښتنه کوم چې ارتداد ورسره نه وي، او د داسې نعمت چې ختميدل نه لري، او په لوړ جنت کې د خپل نبي محمد ﷺ د ملتيا سوال در نه کوم.

۲۹) «اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِفْتَاحـًا لِلْخَيْرِ مِغْلَاقـًا لِلْشَّرِّ، وَلَا تَجْعَلْنِي مِفْتَاحـًا لِلْشَّرِّ مِغْلَاقـًا لِلْخَيْرِ».

۲۹- اې الله! زما نه د خير کيلۍ (خلاصوونکی) او د شر قلفوونکی (بندوونکی) جوړ کړه، او ما د شر خلاصوونکی او د خير بندوونکی مه جوړه وه.

۳۰) «اللَّهُمَّ آتِ نَفْسِي تَقْوَاهَا، زَكِّهَا أَنْتَ خَيْرُ مَنْ زَكَّاهَا، أَنْتَ وَلِيُّهَا وَمَوْلَاهَا».

۳۰- اې الله! زما نفس ته تقوی (ستا وېره) ور په برخه کړه او هغه پاک کړه، ته د هغې تر ټولو ښه پاکوونکی يې، او ته يې دوست او څښتن يې.

۳۱) «اللَّهُمَّ اسْتُرْ عَوْرَتِي، وَآمِنْ رَوْعَتِي، وَاقْضِ عَنِّي دَيْنِي».

**۳۱-** اې الله! زما کمزوري پټه کړه، او زما ډار او وېره په امن بدله کړه، او زما پور ادا کړه.

۳۲) «اللَّهُمَّ قِنِي شَرَّ نَفْسِي، وَاعْزِمْ لِي عَلَى أَرْشَدِ أَمْرِي».

**۳۲-** اې الله! ما د خپل نفس له شره وساته، او ما سره زما تر ټولو غوره کار (دین په معامله) کې کلک عزم (مرسته) را په برخه کړه.

۳۳) «اللَّهُمَّ اجْعَلْ فِي قَلْبِي نُوراً، وَفِي لِسَانِي نُوراً، وَاجْعَلْ فِي سَمْعِي نُوراً، وَاجْعَلْ فِي بَصَرِي نُوراً، وَاجْعَلْ مِنْ تَحْتِي نُوراً، وَاجْعَلْ مِنْ فَوْقِي نُوراً، وَعَنْ يَمِينِي نُوراً، وَعَنْ يَسَارِي نُوراً، وَاجْعَلْ أَمَامِي نُوراً، وَاجْعَلْ خَلْفِي نُوراً، وَاجْعَلْ فِي نَفْسِي نُوراً، وَأَعْظِمْ لِي نُوراً».

**۳۳-** ای الله! زما په زړه کښې نور (رڼا) پیدا کړه، او زما په ژبه کښې نور پیدا کړه، او زما په غوږونو کښې نور پیدا کړه، او زما په سترګو کښې نور پیداکړه، او زما لاندې رڼا کړه، او زما د پاسه رڼا کړه، او زما ښي اړخ ته نور پیدا کړه او زما کیڼې خواته نور

پيدا کړه او زما مخې ته نور پيدا کړه او زما شاته نور پيدا کړه، او ماته زما نور لوی وګرځوه.

۳٤) «اللَّهُمَّ أَحْسِنْ عَاقِبَتَنَا فِي الأُمُورِ كُلِّها، وَأَجِرْنَا مِنْ خِزْيِ الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ».

۳۴- اې الله! زمونږ د ټولو کارونو خاتمه ښه وګرځوه، او مونږ د دنيا او آخرت له رسوايۍ وژغوره.

۳٥) «اللَّهُمَّ انْفَعْنِي بِمَا عَلَّمْتَنِي، وَعَلِّمْني مَا يَنْفَعُنِي، وَارْزُقْنِي عِلْمـًا تَنْفَعُنِي بِهِ».

۳۵- اې الله! ما ته ګټه ورسوه په هغه علم چې ماته دې راکړی، او ماته هغه علم را په برخه کړه کوم چې ماته ګټه لري، او ماته داسې علم راکړه چې د هغې په مرسته ماته ګټه را ورسوې.

۳٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِيشَةً نَقِيَّةً، وَمَيْتَةً سَوِيَّةً، وَمَرَدّاً غَيْرَ مُخْزٍ وَلَا فَاضِحٍ».

۳٦- اې الله! زه له تا نه د پاک ژوند، برابر (معتدل عمرکې) مرګ، او (آخرت ته) د داسې واپسۍ غوښتنه کوم چې نه رسوايي پکې وي او نه بې پرده ګي.

٣٧) «اللَّهُمَّ حَبِّبْ إِلَيْنَا لِقَاءَكَ، وَسَهِّلْ عَلَيْنَا قَضَاءَكَ، وَأَقْلِلْ لَنَا مِنَ الدُّنْيا».

٣٧- اې الله! مونږ ته خپل ملاقات محبوب(خوښ) وګرځوه، او خپله قضاء(د تقدير پرېکړه) پر مونږ آسانه وګرځوه، او له دنيا څخه مونږ ته کمه (دومره چې زمونږ د فتنې سبب نشي) برخه راکړه.

٣٨) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيرَ المَسْأَلَةِ، وَخَيْرَ الدُّعَاءِ، وَخَيْرَ النَّجَاحِ، وَخَيْرَ العَمَلِ، وَخَيْرَ الثَّوَابِ، وَخَيْرَ الحَيَاةِ، وَخَيْرَ المَمَاتِ، وَثَبِّتْنِي، وَثَقِّلْ مَوَازِينِي، وَحَقِّقْ إِيمَانِي، وَارْفَعْ دَرَجَاتِي، وَتَقَبَّلْ صَلَاتِي، وَاغْفِرْ خَطِيئَتِي، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ العُلَى مِنَ الجَنَّةِ، آمِينْ.

٣٨- اې الله! زه له تا څخه ښه (غوره) غوښتنه او ښه دعا، او ښه بريا او ښه عمل، او ښه ثواب او ښه ژوند او د ښه مرګ غوښتنه کوم، ما ثابت قدمه لره،او زما (د نيکيو) تله درنه لره،او ايمان مې پوره کړه، او درجات مې لوړ کړه، او لمونځ مې قبول کړه، او زما خطا وبښه، او زه له تا نه په جنت کې د لوړو درجاتو غوښتنه کوم. آمين

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فَوَاتِحَ الخَيْرِ، وَخَوَاتِمَهُ، وَجَوَامِعَهُ، وَأَوَّلَهُ، وَظَاهِرَهُ، وَبَاطِنَهُ، وَالدَّرَجَاتِ العُلَى مِنَ الجَنَّةِ. آمِينْ.
اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ مَا آتِي، وَخَيْرَ مَا أَفْعَلُ، وَخَيْرَ مَا أَعْمَلُ، وَخَيْرَ مَا بَطَنَ، وَخَيْرَ مَا ظَهَرَ، وَالدَّرَجَاتِ العُلَى مِنَ الجَنَّةِ. آمِينْ.

اې الله! زه له تا نه د هر کار د پیل او پای د خیر سوال کوم، او د هر اړخیزخیر، او د لومړي، ښکاره او پټ خیر سوال کوم او په جنت کې د لوړو درجاتو غوښتنه کوم، آمین. اې الله! زه له تا نه د هغه عمل د ښه والي غوښتنه کوم چې ما راوړی او کوم چې به زه کوم، او د خپل عمل د ښه والي، او د پټ او ښکاره د غوره والي، او په جنت کې د لوړو درجاتو غوښتنه کوم. آمین

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ تَرْفَعَ ذِكْرِي، وَتَضَعَ وِزْرِي، وَتُصْلِحَ أَمْرِي، وَتُطَهِّرَ قَلْبِي، وَتُحَصِّنَ فَرْجِي، وَتُنَوِّرَ لِي قَلْبِي، وَتَغْفِرَ لِي ذَنْبِي، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ العُلَى مِنَ الجَنَّةِ. آمِينْ.

اې الله! زه له تا غوښتنه کوم چې زما یاد (نوم) لوړ کړه، او زما (دګناه) پیټی لرې کړه، او زما کارونه برابر کړه، زما زړه پاک کړه، او زما د شرمځای ساتنه وکړه، او زما زړه روښانه وګرځوه،

او گناه مې وبښه، او زه ستا نه په جنت کې د لوړو درجو غوښتنه کوم. آمين

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ أَنْ تُبَارِكَ لِي فِي نَفْسِي، وَفِي سَمْعِي، وَفِي بَصَرِي، وَفِي رُوحِي، وَفِي خَلْقِي، وَفِي خُلُقِي، وَفِي أَهْلِي، وَفِي مَحْيَايَ، وَفِي مَمَاتِي، وَفِي عَمَلِي، فَتَقَبَّلْ حَسَنَاتِي، وَأَسْأَلُكَ الدَّرَجَاتِ الْعُلَى مِنَ الْجَنَّةِ. آمِينْ».

اې الله! زه له تا غوښتنه کوم چې ته زما په نفس کې، زما په غوږونو کې، زما په سترګو کې، زما په روح کې، او زما په پيدايښت (صورت) کې، او زما په اخلاقو کې، او زما په اهل وعيال کې، او زما په ژوند کې، او زما په مرګ کې، او زما په عمل کې برکت واچوه، او زما نيکۍ قبولې کړه، او زه له تا په جنت کې د لوړو درجو غوښتنه کوم.آمين

٣٩) «اللَّهُمَّ اجْعَلْ عَلَيْنَا صَلَاةَ قَوْمٍ أَبْرَارٍ، يَقُومُونَ اللَّيْلَ وَيَصُومُونَ النَّهَارَ، لَيْسُوا بِأَثَمَةٍ وَلَا فُجَّارٍ».

**٣٩-** اې الله! مونږ ته د هغه نيکو خلکو دعا را په برخه کړه چې د شپې (لمانځه ته) پورته کيږي، او د ورځې روژه نيسي او له ګناه او بې لارۍ لرې وي.

٤٠) «اللَّهُمَّ أَعِنِّي وَلَا تُعِنْ عَلَيَّ، وَانْصُرْنِي وَلَا تَنْصُرْ عَلَيَّ، وَامْكُرْ لِي وَلَا تَمْكُرْ عَلَيَّ، وَاهْدِنِي وَيَسِّرِ الهُدَى لِي، وَانْصُرْنِي عَلَى مَنْ بَغَى عَلَيَّ، اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي لَكَ شَكَّاراً، لَكَ ذَكَّاراً، لَكَ رَهَّابـًا، لَكَ مِطْوَاعـًا، لَكَ مُخْبِتـًا، إِلَيْكَ أَوَّاهـًا مُنِيبـًا، رَبِّ تَقَبَّلْ تَوْبَتِي، وَاغْسِلْ حَوْبَتِي، وَأَجِبْ دَعْوَتِي، وَثَبِّتْ حُجَّتِي، وَسَدِّدْ لِسَانِي، وَاهْدِ قَلْبِي، وَاسْلُلْ سَخِيمَةَ صَدْرِي».

۴۰- اې الله! زما مرسته وکړه او زما پر خلاف د چا مرسته مه کوه، زما سره کومک وکړه او زما پر خلاف د چا سره کومک مه کوه، زما لپاره ښه تدبير جوړ کړه او زما پر خلاف چاته تدبير مه ورکوه، او ماته لارښوونه(هدايت) وکړه او زما لپاره لارښوونه(د هدايت لاره)آسانه کړه، او څوک چې پر ما ظلم وکړي د هغه پر خلاف زما سره مرسته وکړه، اې الله! ما د خپل ځان لپاره شکر کوونکی، ډېر ذکر کوونکی، ستا څخه ډېر وېرېدونکی، ستا پيرو، او تاته عاجزي کوونکی،له تا پنا غوښتونکی او تاته درګرځېدونکی وګرځوه. اې زما پالونکيه! زما توبه قبوله کړه، ګناه مې ووينځه، دعا مې قبوله کړه، زما حجت قائم کړه، ژبه مې سمه کړه، زړه ته مې لار وښيه، او د زړه کينه مې لرې کړه.

٤١) «اللَّهُمَّ أَلِّفْ بَيْنَ قُلُوبِنَا، وَأَصلِحْ ذَاتَ بيْنِنَا، وَاهْدِنَا سُبُلَ السَّلَامِ، وَنَجِّنَا مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ، وَجَنِّبْنَا الفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَبَارِكْ لَنَا فِي أَسْمَاعِنَا، وَأَبْصَارِنَا، وَقُلُوبِنَا، وَأَزْوَاجِنَا، وَذُرِّيَّاتِنَا، وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ، وَاجْعَلْنَا شَاكِرِينَ لِنِعَمِكَ، مُثْنِينَ بِهَا عَلَيْكَ، قَابِلِينَ لَهَا، وَأَتِمَّهَا عَلَيْنَا».

۴۱- اې الله! زمونږ په زړونو کې مینه پیدا کړه، او په منځ کې مو سمون راوله، مونږ ته د سلامتیٰ لارې وښیه، له تیارو مو وژغوره، مونږ له ښکاره او پټو فحشاوو لرې وساته، زمونږ په غوږونو، سترګو، زړونو، ښځو او اولادونو کې برکت واچوه، او زمونږ توبه قبوله کړه، بیشکه ته ډېر مهربان او توبه قبلوونکی یې، او مونږ د خپلو نعمتونو شکر کوونکي، په نعمتونو ستاینه کوونکي، د هغې قبلوونکي وګرځوه، او پر مونږ خپل نعمتونه بشپړ کړه.

٤٢) «اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ، فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ، عَالِمَ الغَيْبِ وَالشَّهَادةِ، أَنْتَ تَحْكُمُ بَيْنَ عِبَادِكَ فِيمَا كَانُوا فِيهِ يَخْتَلِفُونَ، اهْدِنِي لِمَا اخْتُلِفَ فِيهِ مِنَ الحَقِّ بِإِذْنِكَ، إِنَّكَ أَنْتَ تَهْدِي مَنْ تَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ».

۴۲- ای الله! د جبرائيل او ميکائيل او د اسرافيل ربه! د ځمکې او آسمانونو پيداکوونکيه! له ښکاره او پټو څخه با خبره! ته د خپلو بندګانو ترمنځ په هغه څه کې پرېکړه کوونکی يې چې په څه کې هغوی اختلاف کولو، ما ته له دې اختلافه په خپل امر د هغه څه لارښوونه وکړه چې حق وي، ته چې چاته وغواړې نېغې لارې ته يې لارښوونه کوې.

٤٣) «اللَّهُمَّ إِنَّا نَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ، وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا اسْتَعَاذَ مِنْهُ نَبِيُّكَ مُحَمَّدٌ، وَأَنْتَ المُسْتَعَانُ، وَعَلَيْكَ البَلَاغُ، وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ».

۴۳- اې الله! زه له تا څخه د هر هغه خير سوال کوم، کوم چې له تا څخه ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) غوښتی دی، او زه په تا له هغه شره پنا غواړم له کوم څخه چې ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) پناه غوښتې ده، ته مرسته کوونکی يې، او ته د (دنيا او آخرت) هر

خیر ته رسوونکی یې، او نشته هیڅ ځواک او توان (له گناه د ځان ساتلو او د نیکیو د کولو) مگر د الله په توفیق سره.

٤٤) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ المُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ المَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي، وَترْحَمَنِي، وَتَتُوبَ عَلَيَّ، وَإِذَا أَرَدْتَ بِعِبَادِكَ فِتْنَةً فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ غَيْرَ مَفْتُونٍ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ حُبَّكَ، وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُ إِلَى حُبِّكِ».

۴۴- اې الله! زه له تا څخه د ښوکارونو کولو، د بدو کارونو پرېښودلو، د مسکینانو سره د مینې درلودلو او ددې خبرې غوښتنه کوم چې ماته ښښنه وکړه او پر ما رحم وکړه، او کله چې د کوم قوم د ازمویښت اراده کوې نو ما خپل ځان ته په داسې حال کې وغواړه(مړ کړه) چې له فتنې ساتل شوی وم، او زه ستا څخه ستا د محبت غوښتنه کوم او د هغه چا د محبت غوښتنه کوم څوک چې ستا سره محبت کوي او د هغه عمل غوښتنه کوم چې ستا محبت ته نیږدې کوي.

٤٥) «اللَّهُمَّ عَافِنِي فِي جَسَدِي، وَعَافِنِي فِي بَصَرِي، وَاجْعَلْهُ الوَارِثَ مِنِّي، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، الحَلِيمُ الكَرِيمُ، سُبْحَانَ اللهِ رَبِّ العَرْشِ العَظِيمِ، وَالحَمْدُ للهِ رَبِّ العَالَمِينَ».

۴۵- اې الله! ما ته په بدن کې روغتيا راکړه، په غوږونوکې مې روغتيا راکړه او دا زما وارث(تر مرګه سلامت) وګرځوه، له الله پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، چې حلم لرونکی، عزتمند دی، پاکي ده الله لره چې د لوی عرش څښتن دی، ستاينه الله لره ده چې د کائناتو پالونکی دی.

٤٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الأَمْرِ، وَالعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْبـًا سَلِيمـًا، وَلِسَانـًا صَادِقـًا، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوبِ».

۴۶- اې الله! زه له تا څخه په کارونو کې ثبات، او پر هدايت پاتې کېدل غواړم، او له تا څخه د رحمت او ستا د بښنې د لاملونو(اسبابو)غوښتنه کوم،او له تا څخه ستا د نعمت د شکر اداکولو او په ښه توګه ستا د عبادت کولو غوښتنه کوم، او له تا د

سالم زړه او رېښتيني ژبې غوښتنه کوم، او کوم خير چې تاته معلوم دی د هغو غوښتنه درنه کوم، او کوم شر چې درته معلوم دی له هغو څخه پنا درنه غواړم، او څه (تېروتنې) چې تاته معلومې دي د هغې ښښنه درنه غواړم، بيشکه همدا ته پر ټولو پټو پوه (باخبره) يې.

٤٧) «اللَّهُمَّ اسْتَعْمِلْنَا فِي طَاعَتِكَ».

۴۷- اې الله! مونږ ستا په پيروی کې وکاروه.

٤٨) «رَبِّ قِنِي عَذَابَكَ يَوْمَ تَبْعَثُ عِبَادَكَ».

۴۸- ای زما پالونکيه! ما له خپل عذابه په هغه ورځ وژغوره په کومه ورځ چې ته خپل بندګان بيا را ژوندي کوې.

٤٩) «اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ، وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ، وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ، وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ، وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ، فَإِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ، إِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ، وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ، تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ».

۴۹- اې الله! د هغو کسانو په ډله کې چې تا ورته لارښوونه کړې ما ته هم لارښوونه وکړه، او د هغو کسانو په ډله کې چې سلامتي دې ورکړې ما ته هم سلامتي راکړه، ما هم له شره

وساته او د هغو کسانو په ډله کې چې تا ساتلي ما هم وساته، او څه چې د راکړي په هغو کې راته برکت واچوه، او د څه چې تا پرېکړه کړې، د هغه له شره مې وساته، ځکه همدا ته پرېکړه کوونکی يې، او ستا د حکم(پرېکړې) څوک منع کوونکی نشته، په رېښتيا چې ته له چا سره دوستي وکړې، هغه به خوار نشي، او له چا سره چې دښمني وکړې، هغه به عزتمند نشي، ته مبارک ذات يې، او د لويي څښتن يې!

٥٠) «يَا وَلِيَّ الإِسْلَامِ وَأَهْلِهِ، مَسِّكْنِي بِالإِسْلَامِ حَتَّى أَلْقَاكَ عَلَيْهِ».

٥٠- اې د اسلام او د هغه د پيروانو دوسته! ما پر اسلام تر هغه قايم وساته تر څو ستا سره مخ شم.

٥١) «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ».

٥١- ای الله زموږ پالونکيه! موږ ته په دنيا کې نيکی راکړې، او په آخرت کې نيکی راکړې، او د دوزخ له عذابه مو وساتې.

❊ ❊ ❊

## تذكر ...

## فكر وکړه .....

يا لها من كلماتٍ لو قبلها الله منك، وأعطاك سؤلك... لقد سألت الله:

ځومره لويې کلمې (دعاګانې) دي که الله يې درنه قبولې کړي، او ستا کړې غوښتنه درکړي... په رېښتيا تا خو له الله غوښتنه وکړه:

❋ لقد سألت الله: سؤالاً باسمه الأعظم، الذي إذا دُعِيَ به أجاب، وإذا سُئِلَ به أعطى.

په رېښتيا چې له الله دې وغوښتل: د الله د هغه لوی نوم په واسطه دې غوښتنه وکړه، د کوم په واسطه چې الله ته دعا وشي نو هغه دعا قبليږي او څه چې ترې وغوښتل شي نو هغه ورکول کيږي.

❋ سُؤَالاً سيجعل الجنة تجيبُ قائلةً: اللهم أدخله الجنة.

داسې غوښتنه چې په پايله کې به يې جنت هم دا ځواب ورکوي چې: اې الله دا جنت ته داخل کړه.

❋ والنار تجيبُ قائلةً: اللّٰهم أجره من النار.

داسې غوښتنه چې په پایله کې به یې دوزخ هم دا ځواب ورکوي چې: اي الله هغه له اوره وژغوره.

❋ سُؤالاً هو من أفضل ما يسأل به العبد ربه.

داسې غوښتنه چې د یو بنده لپاره تر ټولو غوره غوښتنه ده چې له خپل رب (پالونکي) یې غواړي.

❋ سُؤَالاً أوصى النبيﷺ أن تَكْتَنِزَهُ إذا رأيت الناس يكنزون الذهب والفضة.

داسې غوښتنه چې نبيﷺ د دې سپارښتنه کړې چې کله خلک سره او سپین زر زېرمه کوي نو تاسې دا غوښتنه زېرمه کوئ.

❋ سُؤالاً سيحميك الله به من البلاء – بإذن الله–.

داسې غوښتنه - که د الله خوښه شي- نو تا به ددې په مرسته له کړاوه وژغوري.

سؤالاً شمل كل حاجياتك، ما علمت منها وما لم تعلم ... لكن من رُفِعَ إليه السؤال عَلِمَ - سبحانه -.

داسې غوښتنه چې ستا ټولې اړتياوې پکې رانغښتې دي، که تاته معلومې وي او کنه..... خو چا ته چې دا غوښتنه پورته کيږي هغه ذات پرې خبر دی.

إخواني وبحمد الله انتهينا من وِرْدُ السؤالات ويتبعه وِرْدُ الإستعاذات

ورونړو د الله په پېرزوينه مونږ د غوښتنې کولو اوراد پای ته ورسول، وروسته به د پناه غوښتنې اوراد وي.

***

# وِرْدُ الإستعاذات

## د پناه غوښتنې اوراد

## أيها القلب: تهيأ للاستعاذة بالله وحده

## اې زړه: يوازې پر الله پناه غوښتلو ته چمتو شه

ليس لك إلا أن تستعيذَ بالله.. وليس لك من سلامةٍ إلا أن يعيذك الله ...

له الله پرته بل څوک نه لرې چې پناه پرې وغواړې... او نه هم سلامتيا ترلاسه کولای شې، بې له دې چې الله درته پناه درکړي....

فما أكثر الأعداء.. لكن ما أعظم الدعاء...؟!

دښمنان څومره زيات دي..... مگر ورسره دعا څومره لويه ده؟!

فيا لها من تعوذاتٍ لو عقلها قائلوها ...

د پناه غوښتلو څومره لوی او عجيبه اوراد دي که چېرته ويونکي ورباندې پوه شي....

هاك التعوذات العظيمة التامة...لا يتجاوزهن أحدٌ أبداً...

دادي د پناه غوښتلو دا لوی او بشپړ اوراد در واخله... هيڅکله هم له دې څوک پورته(زيات)نشي راوړی...

اطلب بها الحماية من الله، وأنت الخائف المضطر، وأنت المحتاج المتضرع...

په دې سره له الله خونديتوب وغواړه، په داسې حال کې چې ته ويريدلی او مجبور(اړ) وې، او ته محتاج او عاجزي کوونکی وې....

وعندها سيعود العدو خاسئًا وهو حسيرٌ، وتعود أنت في حمى الله آمنًا من كلِّ شرٍّ وشريرٍ...

په دې سره به دښمن ستومانه او نامراده راستون شي، او ته به د الله په ژغورنه کې له هر ډول شر او شرغوښتونکو څخه په امن شې....

❊ ❊ ❊

## وِرْدُ الإستعاذات:

## د پناه غوښتنې اوراد

* أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ
(زه په الله د رټل شوي شيطان څخه پنا غواړم)

* ﴿رَّبِّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ هَمَزَاتِ ٱلشَّيَاطِينِ ۝٩٧ وَأَعُوذُ بِكَ رَبِّ أَن يَحْضُرُونِ ۝٩٨﴾ [المؤمنون: ٩٧-٩٨].

(اې پالونکيه! زه د شيطانانو له هځونو (وسوسو) څخه تاته پناه دروړم، اې زما پالونکيه! زه له دې څخه هم پناه غواړم چې هغوی ماته راشي.) [المؤمنون: ٩٧-٩٨].

* ﴿رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنْ أَسْـَٔلَكَ مَا لَيْسَ لِي بِهِۦ عِلْمٌۖ وَإِلَّا تَغْفِرْ لِي وَتَرْحَمْنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلْخَٰسِرِينَ ۝٤٧﴾ [هود: ٤٧].

(اې زما پالونکيه! زه تاته له دې څخه پنا دروړم چې هغه څه وغواړم چې نه پرې پوهيږم، که ته ماته ببښنه ونه کړې او رحم

راباندې ونه کړې، نو زه به د زیانمنو له ډلې څخه شم.) [هود: ٤٧].

* ﴿أَعُوذُ بِٱللَّهِ أَنْ أَكُونَ مِنَ ٱلْجَـٰهِلِينَ﴾ [البقرة: ٦٧].

(زه له دې نه الله ته پناه ور وړم چې د پوهانو له ډلې شم.) [البقرة: ٦٧].

١) «اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِعِزَّتِكَ، لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي، أَنْتَ الحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ، وَالجِنُّ وَالإِنْسُ يَمُوتُونَ».

١- اې الله! تا ته مې سر ټيټ کړی، او پر تا مې ايمان راوړی،او بروسه مې درباندې کړې، او ستا خوا ته رجوع کوم، او ستا په راکړو دليلونو (له معانديونو سره) مبارزه کوم، اې الله! له تا پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، زه ستا په عزت له دې پنا غواړم چې گمراه(لاروركی) شم، ته هغه ژوندی ذات يې چې کله هم مرگ نه پرې راځي، او پېريان او انسانان مړه کيږي.

٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ سُوءِ الْقَضَاءِ، وَمِنْ دَرَكِ الشَّقَاءِ، وَمِنْ شَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ، وَمِنْ جَهْدِ البَلَاءِ».

٢- اې الله ! زه پنا غواړم په تا سره د بد تقدير او د بدبختۍ رسيدلو،او(پرما) د دښمن د زړه يخيدو (خوشحاليدو) او د مصيبت له سختوالي څخه.

٣) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ دُعَاءٍ لَا يُسْمَعُ، وَنَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ صَلَاةٍ لَا تَنْفَعُ، وَعَمَلٍ لا يُرْفَعُ».

٣- اې الله! زه پرتا پناه غواړم له داسې علمه چې ګټه ونه لري او له داسې زړه نه چې په هغې کې (ستا) ويره نه وي، او له داسې نفس څخه چې مړښت نه لري، او له داسې لمونځ څخه چې ګټه ونه لري، او له داسې عمله چې (الله ته) پورته نشي.

٤) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنَ الخَيْرِ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الشَّرِّ كُلِّهِ، عَاجِلِهِ وَآجِلِهِ، مَا عَلِمْتُ مِنْهُ وَمَا لَمْ أَعْلَمْ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا سَأَلَكَ عَبْدُكَ وَنَبِيُّكَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَاذَ بِهِ عَبْدُكَ

وَنَبِيُّكَ، اللَّهُمَّ أَسْأَلُكَ الجَنَّةَ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ اَلنَّارِ وَمَا قَرَّبَ إِلَيْهَا مِنْ قَوْلٍ أَوْ عَمَلٍ، وَأَسْأَلُكَ أَنْ تَجْعَلَ كُلَّ قَضَاءٍ قَضَيْتَهَ لِي خَيْراً».

۴- اې الله! زه له تا څخه هره ښېګڼه غواړم، کومه چې زر راتلونکې وي او کومه چې وروسته راتلونکې وي، که زه له هغې خبر وم او که نا خبره، او زه پر تا له هر شره پنا غواړم کوم چې زر راتلونکی وي او کوم چې وروسته راتلونکی وي، که زه له هغې خبر وم او که نا خبره، اې الله! زه له تا د هر هغه خير غوښتنه کوم، کوم چې له تا څخه ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) غوښتی دی، او زه پر تا له هغه شره پنا غواړم له کومه چې ستا بنده او نبي (محمد ﷺ) پر تا پناه غوښتې ده، اې الله! زه ستا څخه د جنت او هر هغه وينا او کړنې غوښتنه کوم چې جنت ته نيږدې کوي، او زه پر تا د اور او هر هغه وينا او کړنې پنا غواړم کوم چې اور(دوزخ) ته نيږدې کول کوي. او زه له تا نه د دې غوښتنه کوم چې کومه پريکړه زما په حق کې کوې هغه ماته غوره وګرځوه.

٥) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ النَّارِ، وَمِنْ عَذَابِ النَّارِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ القَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ. وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ فِتْنَةِ الغِنَى، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِ فِتْنَةِ الفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ».

٥- اې الله! زه پر تا پناه غواړم د اور له فتنې او د اور له عذابه، او پرتا پنا غواړم د قبر له فتنې څخه، او پر تا پنا غواړم د قبر له عذابه، او پر تا د مالدارئ(شتمنئ) له فتنې پنا غواړم، او پر تا پنا غواړم د فقر له فتنې څخه، او پر تا د مسيح دجال له فتنې پنا غواړم.

٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ أَنْ أُرَدَّ إِلَى أَرْذَلِ العُمُرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الدُّنْيَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ الصَّدْرِ، وَبَغْيِ الرِّجَالِ».

٦- اې الله! زه پر تا له دې پناه غواړم چې تېر عمر ته ورسول شم، او پرتا د دنيا له فتنې پنا غواړم، او پر تا د قبر له عذابه پنا غواړم، او په تا سره د زړه تنګوالي(د زړه له ناروغيو او بې توبې مرګ) څخه او سړيو (خلکو) له تيري پنا غواړم.

٧) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الفَقْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ القِلَّةِ وَالذِّلَّةِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَظْلِمَ أَوْ أُظْلَمَ».

٧- اې الله! زه پر تا له فقره پناه غواړم، او زه پر تا له کمی او رسوایی پنا غواړم، او زه پر تا له دې (خبرې) پنا غواړم چې پر چا ظلم وکړم او یا پر ما څوک ظلم وکړي.

٨) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا عَمِلْتُ، وَمِنْ شَرِّ مَا لَمْ أَعْمَلْ».

٨- اې الله! زه درڅخه د هغه کار له شره پناه غواړم کوم چې ما کړی او د هغه کار له شره پنا غواړم کوم چې مې نه دی کړی.

٩) «اللَّهُمَّ رَبَّ جِبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ، وَرَبَّ إِسْرَافِيلَ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ حَرِّ النَّارِ، وَمِنْ عَذَابِ القَبْرِ».

٩- اې الله! د جبرائيل، ميکائيل، او اسرافيل ربه! زه پر تا د اور له تاو (گرمی) او د قبر له عذابه پناه غواړم.

١٠) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ الجُوعِ؛ فَإِنَّهُ بِئْسَ الضَّجِيعُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الخِيَانَةِ؛ فَإِنَّهَا بِئْسَتِ البِطَانَةُ».

١٠- اې الله! زه پر تا له لوږې پناه غواړم ځکه هغه بد ملګرى دى، او پر تا له خيانته پناه غواړم ځکه هغه بد پټ خوى (راز داره) دى.

١١) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَرَمِ، وَالتَّرَدِّي، وَالهَدْمِ، وَالغَمِّ، وَالحَرِيقِ، وَالغَرَقِ، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ يَتَخَبَّطَنِيَ الشَّيْطَانُ عِنْدَ المَوْتِ، وَأَنْ أُقْتَلَ فِي سَبِيلِكَ مُدْبِراً، وَأَعُوذُ بِكَ أَنْ أَمُوتَ لَدِيغـًا».

١١- اې الله! زه پر تا له تېر عمر، او له تباهى، او لاندې کېدو او سوزيدلو او ډوبېدو پناه غواړم، او پر تا پناه غواړم له دې چې شيطان مې د مرګ پر وخت د عقل له اداري وباسي (دوکه کړي)، او له دې پناه غواړم چې ستا په لاره کې د تېښتې په حالت کې و وژل شم، او پر تا پناه غواړم له دې چې د څه شي د چيچلو له کبله مړ شم.

١٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عَذَابِ القَبْرِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ المَسِيحِ الدَّجَّالِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ فِتْنَةِ المَحْيَا وَالمَمَاتِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ المَأْثَمِ وَالمَغْرَمِ».

١٢-اي الله! زه پناه غواړم پر تا د قبر له عذابه، او پناه غواړم پر تا د مسيح دجال له فتنې، اي الله! زه پر تا د ژوند او مرگ له فتنو پناه غواړم،! او زه پر تا د گناه او تر پور لاندې کېدو پناه غواړم.

١٣) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ العَجْزِ، وَالكَسَلِ، وَالجُبْنِ، وَالبُخْلِ، وَالهَرَمِ، وَالقَسْوَةِ، وَالغَفْلَةِ، وَالعَيْلَةِ، وَالذِّلَّةِ، وَالمَسْكَنَةِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الفَقْرِ، وَالكُفْرِ، وَالفُسُوقِ، وَالشِّقَاقِ، وَالنِّفَاقِ، وَالسُّمْعَةِ، وَالرِّيَاءِ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ الصَّمَمِ، وَالبُكْمِ، وَالجُنُونِ، وَالجُذَامِ، وَالبَرَصِ، وَسَيِّءِ الأَسْقَامِ».

١٣- اي الله! زه پناه غواړم پر تا له بې وسۍ څخه، له سستۍ (تنبلۍ) له بې زړه توب، له بخيلۍ، او له زوړوالي (تېرعمر) د زړه له سختوالي، غفلت، له اړتيا، له ذلت او کمزورۍ څخه، او پناه غواړم پر تا له فقر، کفر، فسق، اختلاف، منافقت، شهرت غوښتنې او ريا کارۍ څخه. او زه پناه غواړم پر تا له کوڼوالي،

ګونکوالي، لیونتوب، له جذام او له برګي(پیس مرض) او له ټولو بدو ناروغیو څخه.

۱٤) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ زَوَالِ نِعْمَتِكَ، وَتَحَوُّلِ عَافِيَتِكَ، وَفُجَاءَةِ نِقْمَتِكَ، وَجَمِيعِ سَخَطِكَ».

۱۴- اې الله! زه پر تا ستا د نعمت له زواله پناه غواړم، او ستا د راکړي سلامتیا (روغتیا) له بدلېدو(پر ناروغۍ د اخته کېدو) څخه، او ستا د ناڅاپي نیونې او ستا د هر ډول نا خوښۍ څخه پناه غواړم.

۱٥) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ سَمْعِي، وَمِنْ شَرِّ بَصَرِي، وَمِنْ شَرِّ لِسَانِي، وَمِنْ شَرِّ قَلْبِي، وَمِنْ شَرِّ مَنِيِّي».

۱٥- اې الله! زه پناه غواړم پر تا د خپلو غوږونو له شره، د خپلو سترګو له شره، د خپلې ژبې له شره، د خپل زړه له شره، او د خپل شرمځای(شهوت) له شره.

١٦) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ غَلَبَةِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ العَدُوِّ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ».

١٦- اې الله! زه پناه غواړم پرتا له قرض زیاتیدو او د دښمن له برلاسي کېدو، (پرما) ددښمن له زړه یخېدو(خوشحالېدو) څخه.

١٧) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ يَوْمِ السُّوءِ، وَمِنْ لَيْلَةِ السُّوءِ، وَمِنْ سَاعَةِ السُّوءِ، وَمِنْ صَاحِبِ السُّوءِ، وَمِنْ جَارِ السُّوءِ فِي دَارِ المُقَامَةِ».

١٧- اې الله! زه پر تا له بدې ورځې، بدې شپې، بدې گړۍ (ساعت)، بد ملگري او په استوگنځي کې له بد گاونډي پناه غواړم.

١٨) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ ضِيقِ الدُّنْيَا، وَضِيقِ يَوْمِ القِيَامَةِ».

١٨- اې الله! زه پر تا د دنيا له تنگۍ، او د قيامت د ورځې له تنگۍ پناه غواړم.

١٩) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ مُنْكَرَاتِ الأَخْلَاقِ، وَالأَعْمَالِ، وَالأَهْوَاءِ وَالأَدْوَاءِ».

١٩- اې الله! زه پر تا له بدو اخلاقو، ناوړه کارونو، بدو غوښتنو، او زيان رسوونکو ناروغيو پناه غواړم

٢٠) «اللَّهُمَّ أَعُوذُ بِكَ مِنْ الهَمِّ، وَالحَزَنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ».

٢٠- اې الله! زه پر تا پناه غواړم له پرېشانۍ او غمه، او د پور له زياتېدو او د خلکو له برلاسۍ څخه.

٢١) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَارِ السُّوءِ، وَمِنْ زَوْجٍ تُشَيِّبُنِي قَبْلَ المَشِيبِ، وَمِنْ وَلَدٍ يَكُونُ عَلَيَّ رَبًّا، وَمِنْ مَالٍ يَكُونُ عَلَيَّ عَذَابًا، وَمِنْ خَلِيلٍ مَاكِرٍ عَيْنُهُ تَرَانِي وَقَلْبُهُ يَرْعَانِي، إِنْ رَأَى حَسَنَةً دَفَنَهَا، وَإِنْ رَأَى سَيِّئَةً أَذَاعَهَا».

٢١- اې الله! زه پناه غواړم پر تا له بد ګاونډي څخه، او له داسې مېرمنې څخه چې (د هغې بد چلند) ما له زوړتوب مخکې زوړ کړي، او له داسې زوی(اولاد) څخه چې پر ما بادار وګرځي او له داسې ماله چې زما لپاره عذاب وي، او له

داسې دوکه ورکوونکي ملګري څخه چې په ښکاره زما(د ملګرۍ) خيال ساتي او زړه کې راته (د ضرر) موقع ګوري، که له ما څه نيکي وګوري نو هغه پټوي او که بدي راڅخه ويني نو هغه خوروي.

٢٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ سُوءِ الْعُمُرِ».

۲۲- اې الله! زه پناه غواړم پر تا له تېر (ډير بوډاتوب) عمر څخه.

٢٣) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَهْدِيكَ لِأَرْشَدِ أُمُورِي، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ نَفْسِي».

اې الله! زه له تا د خپل غوره کارونو د ښه کولو د لارښوونې (توفيق) غوښتنه کوم، او پر تا د خپل نفس له شره پناه غواړم.

٢٤) «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُشْرِكَ بِكَ وَأَنَا أَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا أَعْلَمُ».

۲۴- اې الله! زه پرتا پناه غواړم له دې چې له تا سره شريک ونيسم په داسې حال کې چې زه پوهېږم، او بښنه غواړم په کومو چې نه پوهېږم.

٢٥) «أَعُوذُ بِاللهِ مِنْ الفِتَنِ، مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ، وَأَعُوذُ بِاللهِ مِنْ فِتْنَةِ الأَعْوَرِ الكَذَّابِ».

**٢٥-** زه پر الله له فتنو پناه غواړم، که ښکاره وي او که پټې، او پر الله د يو سترګي درواغجن (دجال) له فتنې پناه غواړم.

٢٦) «أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ مِنْ هَمْزِهِ، وَنَفْثِهِ، وَنَفْخِهِ».

**٢٦-** زه پر الله له رټل شوي شيطان او د هغه له ليونتوب (کوم چې شيطان انسان ته پيدا کوي) او د هغه له کوډو (کوم چې شيطان انسان ته وسوسه کوي) او د هغه له کبره (چې شيطان يې انسان ته په زړه کې اچوي) پناه غواړم.

❊ ❊ ❊

## تذكر ...

## فكر وکړه.....

إنك استعذت بالله العلي العظيم:

بيشکه تا د لوی او پورته شان والا الله په نوم سره پناه وغوښته:

* باسْتِعَاذَةٍ علمها النبي ﷺ لزوجه عائشة رضي الله عنها .

داسې پناه غوښتنه کومه چې نبي ﷺ خپلې مېرمنې عائشه رضي الله عنها ته ورښوولې وه

* باسْتِعَاذَةٍ كان النبي ﷺ دائمـًا يستعيذ بها.

داسې پناه غوښتنه چې نبي ﷺ به تل پرې پناه غوښته.

* باسْتِعَاذَةٍ كان النبي ﷺ يعلمها أصحابه كما يعلمهم القرآن.

داسې پناه غوښتنه چې نبي ﷺ به خپلو صحابه وو ته داسې ورښووله لکه قرآن کريم چې ورښايي.

❁ باسْتِعَاذَةٍ كان النبي ﷺ كثيراً ما يرددها قبل موته.

داسې پناه غوښتنه چې نبي ﷺ به له وفات مخکې ډېره تکراروله.

❁ باسْتِعَاذَةٍ أكثر منها النبي ﷺ خاصةً في الصلاة.

داسې پناه غوښتنه چې نبي ﷺ به ډېره غوښتله په ځانګړې ډول په لمانځه کې.

❁ باسْتِعَاذَةٍ علمها النبي ﷺ لذاك الشاب عندما طلب ذلك من النبي ﷺ.

داسې پناه غوښتنه چې نبي ﷺ هغه ځوان ته وروښودله کوم ځوان چې دا له نبي ﷺ څخه وغوښتله.

❁ باسْتِعَاذَةٍ من قالها أذهب الله عنه قليل الشرك الخفي وكثيره.

داسې پناه غوښتنه چا چې وویله نو الله به له هغه لږ او ډېر پټ شرک لرې کړي.

❇ باستعاذاتٍ كان النبي ﷺ يحافظ عليها دائما.

په داسې پناه غوښتنې چې نبي ﷺ به په پابندۍ سره غوښتلې

إنتهى وِرْدُ الإستعاذة ويتبعه وِرْدُ الرقية الشرعية

د پناه غوښتنې اوراد پای ته ورسېدل ورپسې د شرعي دم اوراد دي

❇ ❇ ❇

# وِرْدُ الرقية الشرعية

## د شرعي دم اوراد

## أيها القلب: تهيأ للرقية الشرعية

## إنها رقى تدفع وترفع...

### اې زړه: د شرعي دم اذكارو ته چمتو شه

### دا داسې دم دی چې د کړاوونو مخه نيسي او لرې کوي يې...

أتاك الذكر الذي به تحمي نفسك وأهلك ومالك...

داسې اذكار دې مخې ته راغلل چې د دې په مرسته به د خپل ځان او کورنۍ او مال ژغورنه کوې....

أتاك الذكر الذي لا يبقى عليك بعده حسدٌ ولا عينٌ ولا سقمٌ...

داسې اذكار دې مخې ته راغلل چې له دې وروسته به پر تا نه د حسد، نه د نظر او نه هم د ناروغۍ اغېز پاتې شي....

أتاك الذكر الذي به تقهر الأعداء من الجن والإنس ولو اجتمعوا عليك...

داسې اذكار دې مخې ته راغلل چې د دې له لارې به جني او انسي دښمنان را لاندې کوې که څه هم ټول درته يو ځای شي...

اعلمْ أن الرقى واحدةٌ والرقاة كثرٌ، لكن من المُجاب؟

پردې پوه شه چې دم يو دی، او دم كوونكي ډېر دي، مگر خبره داه چې د چا دم به لگيږي؟

تقدم أنت، وقله وقلبك مع كلمات الله التامة تلك...يعيش عظمتها، ويأوي إلى حمى الله بها...

ته وړاندې شه، او دا دم په داسې حال کې ووايه چې زړه دې د الله له دې بشپړ كلام سره حاضر وي.... د دې عظمت دې په زړه کې ژوندی وي، او په دې (اذكارو) د الله ته پناه وروړې وي...

تقدم وقلها بنية الرقية والشفاء والحماية من كل شرٍّ وشريرٍ...

ته وړاندې شه، او دا د پناه غوښتنې او شفا او له هر شر او شر غوښتونکي څخه د ژغورنې په نيت يې ووايه...

ثم انتظر فرج الله، ألا إن فرج الله واقعٌ.... بإذن الله.

نو بيا د الله لخوا د ژغورنې منتظر اوسه، بېشكه چې د الله لخوا ژغورنه راتلونکې ده - كه د الله خوښه شي-

❊ ❊ ❊

# ورد الرقية الشرعية[3]

## د شرعي دم اذکار

١- ﴿بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ١ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ٢ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ٣ مَٰلِكِ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٤ إِيَّاكَ نَعۡبُدُ وَإِيَّاكَ نَسۡتَعِينُ ٥ ٱهۡدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ٦ صِرَٰطَ ٱلَّذِينَ أَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ ٱلۡمَغۡضُوبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا ٱلضَّآلِّينَ ٧﴾ [الفاتحة: ١-٧].

---

٣- من وجد ألماً في جسده، أو خاف على نفسه الحسد، فليجمع كفيه ثم ليقرأ فيهما ما سيأتي من الرقية مع النفخ بقليل من الريق بعد كلِّ دعاءِ رقيةٍ ثم ليمسح بهما موضع الألم أو الجسد كله، فإنه سيجد بذلك البُرأ التام - بإذن الله -

[څوک چې په بدن کې درد ولري، او یا د ځان په اړه له حسده ویره لري، نو لاسونه دې لپه کړي او بیا دې د دم راتلونکي اذکار ووایي د دم له هرې دعا وروسته دې له لړو ناړو سره په لپه کې چف وکړي او بیا دې د درد پر ځای او یا هم پر ټول بدن مسحه کړي، نو پردې به د الله په خوښه بشپړ شفا تر لاسه کړي.

۱- پیل کوم د الله په نوم چې ډېرمهربان او ښنونکی دی ټوله ستاینه یوازې الله لره ده، چې د ټولو کائناتو پالونکی دی، ډېر مهربان او رحم لرونکی دی. د جزا د ورځې څښتن دی.موږ همدا ستا عبادت کوو او له تا مرسته غواړو. موږ ته سمه لاره وښیه، د هغه کسانو لار چې تا پرې پېرزوینه کړې، نه د هغه کسانو لار چې غضب پرې شوی او نه د بې لارې شوو خلکو لار. [الفاتحة: ۱-۷].

۲- أَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ:

﴿ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ مَن ذَا ٱلَّذِي يَشۡفَعُ عِندَهُۥٓ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ يَعۡلَمُ مَا بَيۡنَ أَيۡدِيهِمۡ وَمَا خَلۡفَهُمۡۖ وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيۡءٖ مِّنۡ عِلۡمِهِۦٓ إِلَّا بِمَا شَآءَۚ وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَۖ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ وَهُوَ ٱلۡعَلِيُّ ٱلۡعَظِيمُ ٢٥٥﴾ [البقرة: ۲۵۵].

۲- زه پر الله د رټل شوي شیطان څخه پنا غواړم

«الله (هغه بر حق معبود دی چې) له هغه پرته بل د عبادت وړ معبود نشته، هغه تل ژوندی دی، (د کائناتو) تدبیروونکی دی، نه پر هغه پرکالي راځي او نه خوب، څه چې په آسمانونو او ځمکه کې دي ټول هغه لره دي، نشته څوك چې د ده پر وړاندې د ده له

اجازې پرته (د چا لپاره) سپارښتنه وکړي، پوهيږي پر هغه څه چې له هغوی نه وړاندې دي، او پر هغه څه چې ترې وروسته دي، او (هغوی) د ده له علم په هيڅ شي احاطه نشي کولای، مګر کوم شی چې الله وغواړي، کرسي يې پر آسمانونو او ځمکه احاطه کړې ده، او د (آسمانونو او ځمکې) ساتل هغه نه ستړی کوي، او هغه لوړ او لوی دی». [البقرة: ٢٥٥].

٣- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ۝٤﴾ [الإخلاص: ١-٤].

٣- پيل کوم د الله پر نوم چې ډېر مهربان او بښونکی دی

«ووايه (ای محمده!): دا چې الله يکي يو دی، الله بې نيازه دی، نه يې څوك زيږولي، او نه له چا نه زيږېدلی، او هيڅوك هغه لره سيال نشته». [الإخلاص: ١-٤].

٤- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ٢ وَمِن شَرِّ
غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ٤ وَمِن شَرِّ
حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ٥﴾ [الفلق: ١-٥].

۴- پیل کوم د الله پر نوم چې ډېر مهربان او بښونکی دی
«ووايه (ای محمده!): پناه غواړم د سهار پر پالونکي، د هغه څه له شره چې هغه پیدا کړي، د تیارې شپې له شره چې کله تکه توره شي، او د پوکي کوونکو (جادوګرو) ښځو له شره (چې پوکل کوي) په غوټو کې، او د حسد کوونکي له شره چې کله حسد وکړي». [الفلق: ۱-۵].

٥- بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

﴿قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ٣
مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ ٱلۡخَنَّاسِ٤ ٱلَّذِي يُوَسۡوِسُ فِي صُدُورِ
ٱلنَّاسِ٥ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ٦﴾ [الناس: ١-٦].

۵- پیل کوم د الله پر نوم چې ډېر مهربان او بښونکی دی
«ووايه (ای محمده!): پناه غواړم د خلکو پر پالونکي، د خلکو پر ټولواك د خلکو پر معبود، د وسوسه اچوونکي، پټېدونکي

(شيطان) له شره، کوم چې د خلکو په سینو کې وسوسې اچوي، له پېریانو څخه وي، او که له انسانانو څخه». [الناس: ١-٦].

٦- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ».

٦- زه د الله په بشپړ کلام سره د هغه د مخلوقاتو له شره پنا غواړم.

٧- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ، مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ، وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ».

٧- زه د الله پر ټولو بشپړه کلمو له هر شیطان او هر زهر لرونکي حشراتو له شره او د هر لګیدونکي نظره پنا غواړم.

٨- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِوَجْهِكَ الكَرِيمِ، وَكَلِمَاتِكَ التَّامَّةِ، مِنْ شَرِّ مَا أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اللَّهُمَّ أَنْتَ تَكْشِفُ المَغْرَمَ وَالمَأْثَمَ، اللَّهُمَّ لَا يُهْزَمُ جُنْدُكَ، وَلَا يُخْلَفُ وعْدُكَ، وَلَا يَنْفَعُ ذَا الجَدِّ مِنْكَ الجَدُّ، سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ».

٨- اې الله! زه ستا پر عزتمند مخ او ستا په بشپړ کلام د هر هغه څه له شره پناه غواړم چې د تندي ویښتان (واک) یې ستا په لاس کې دی، اې الله! همدا ته پور او ګناه لرې کوې، اې

الله! ستا لښکر ماتې نه خوري، او ستا ژمنه شاته نه پاتې کيږي، ګټه نه ورکوي شتمن لره د هغه شتمني (ستا د عذاب په لرې کولو کې)، پاکي تا لره ده او ستاينه تا لره ده.

٩- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ الَّتِي لَا يُجَاوِزُهُنَّ بَرٌّ وَلَا فَاجِرٌ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ، وَذَرَأَ وَبَرَأَ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَنْزِلُ مِنَ السَّمَاءِ، وَمِنْ شَرِّ مَا يَعْرُجُ فِيهَا، وَمِنْ شَرِّ مَا ذَرَأَ فِي الأَرْضِ، وَمِنْ شَرِّمَا يَخْرُجُ مِنْهَا، وَمِنْ شَرِّ فِتَنِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ، وَمِنْ شَرِّ كُلِّ طَارِقٍ إِلَّا طَارِقًا يَطْرُقُ بِخَيْرٍ، يَا رَحْمَانُ».

٩- زه د الله پر هغه بشپړ کلام چې له هغه هيڅ نيک او بد اوښتی نشي د هر هغه څه له شره پناه غواړم چې هغه (الله) پيدا کړي او بيايې خواره کړي، او د هر هغه څه له شره چې له آسمانه را ښکته کيږي او د هر هغه څه له شره چې د آسمان ته پورته کيږي، او د هر هغه څه له شره چې هغه په ځمکه کې خواره کړي، او د هر هغه څه له شره چې له ځمکې راوځي، او د شپې او ورځې د فتنو له شره، او د شپې پر مهال د هر راتلونکي له شره پرته له هغه راتلونکي نه چې خير له ځان سره راوړي، اې مهربانه!

١٠- «أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ، مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ، وَمِنْ شَرِّ عِبَادِهِ، وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ، وَأَنْ يَحْضُرُونِ».

١٠- زه پناه غواړم د الله پر بشپړ کلام، د هغه له غضب او عذابه، او د شيطانانو له وسوسو څخه، او له دې چې (شيطانان) ما ته راشي.

١١- «بِسْمِ اللهِ الَّذِي لَّا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ».

١١- د هغه الله پر نوم، چې له نوم سره يې هيڅ شى په ځمکه او آسمان کې ضرر نه رسوي.

١٢- «اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ وَرَبَّ الأَرْضِ وَرَبَّ العَرْشِ العَظِيمِ، رَبَّنَا وَرَبَّ كُلِّ شَيْءٍ، فَالِقَ الحَبِّ وَالنَّوَى، وَمُنْزِلَ التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالفُرْقَانِ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ كُلِّ شَيْءٍ أَنْتَ آخِذٌ بِنَاصِيَتِهِ، اللَّهُمَّ أَنْتَ الأَوَّلُ، فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الآخِرُ، فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ الظَّاهِرُ، فَلَيْسَ فَوْقَكَ شَيْءٌ، وَأَنْتَ البَاطِنُ، فَلَيْسَ دُونَكَ شَيْءٌ».

اې الله! د اوو آسمانونو ربه او د لوى عرش څښتنه، زموږ او

د هر شي پالونکیه، د داني او زړي زرغونوونکیه، او د تورات او انجیل او قرآن را نازلوونکیه! زه پر تا د هر هغه شي له شره پناه غواړم د چا د تندي وېښتان (واک) چې ستا په لاس کې دي، اې الله! ته ترهرڅه لومړی یې تر تا وړاندې څه نشته او ته تر هرڅه وروستی یې تر تا وروسته څه نشته، ته تر ټولو ښکاره(پورته) یې تر تا پورته څه نشته، ته پټ (او هرڅه ته نیږدې) یې تر تا پټ (او نیږدې) څوک نشته.

## تذكر ...

### فكر وکړه.....

لقد مررت بأعظم الرقى الشرعية... فمنها:

په رېښتيا ته پر لوی شرعي دم تېر شوې... چې ځينې يې دا وو:

❇ رُقْيَةٌ بأعظم سورةٍ في الكتاب، تدفع بها السموم، والجنون، وسائر الأسقام.

د الله په کتاب کې تر ټولو پر لوی سورت دم، چې د هغو په مرسته زهر، ليونتوب او ټولې ناروغۍ دفعه کيږي.

❇ ومنها رُقْيَةٌ بأعظم آيةٍ في الكتاب، تدفع بها أذى الجان بحراسة الملائكة لك.

له هغې ډلې څخه د قرآن كريم تر ټولو پر لوی آيت دم کول و، چې د هغو په مرسته د پېريانو اذيت ستا څخه د پرېښتو د ساتنې له امله لرې کيږي.

❁ ومنها رُقْيَةٌ بإستعاذةٍ هي من أعظم ما تعوذ به المتعوذون.

له هغې دُلې داسې دم هم و چې د پناه غوښتونکو لپاره تر ټولو لویه پناه غوښتنه ګڼل کیږي.

❁ ومنها رُقْيَةٌ علمها النبي ﷺ لمن كان يفزع من النوم، وأنه لو قالها فلن تضره الشياطين.

له هغې دُلې داسې دم هم و چې نبي عليه السلام هغه چاته ور ښودلی و چې په خوب کې به وېرېدو، او دا یې هم وروښودل که چېرته دا ووایي نو شیطان به هیڅکله هم ورته ضرر ونه رسوي.

❁ ومنها رُقْيَةٌ لو قلتها ثم نزلت مكانـًا جديداً فلن يضرك شيءٌ.

له هغې دُلې داسې دم هم و، چې کله نوي ځای ته لاړ شې او هلته یې ووایې نو هلته به هیڅ شی هم ضرر درته ونه رسوي.

❋ ومنها رُقْيَةٌ هي إستعاذة جبريل لرسول الله ﷺ عندما كادته الشياطين ليلة الجن، وأرادوا حرق وجهه الشريف، فرد الله كيدهم، وأطفأ نارهم.

له هغې دلې د جبريل عليه السلام هغه دم هم و چې د (ليلة الجن) په شپه کله شيطانانو نبي عليه السلام ته چل جوړ کړو، او د هغه مخ مبارک يې سوځول غوښتل نو جبريل عليه السلام پرې دم کړو، نو الله تعالى د هغوى تدبير ناکام کړ او د هغوى اور يې مړ کړ.

❋ ومنها رُقْيَةٌ إن قلتها فلن يضرك الله شيءٌ في يومك وليلتك –بإذن الله تعالى–.

له هغې دلې داسې دم هم دی، که يې ووايې نو- د الله په امر به - په هغه شپه او ورځ کې شيطان هيڅکله هم ضرر درته ونه رسوي.

إنتهى وِرْدُ الرقية الشرعية ويتبعه وِرْدُ الكرب والهم

د شرعي دم اذکار پای ته ورسېدل او ورپسې د سختيو او پريشانيو لرې کولو اذکار دي

# وِرْدُ الكرب والهمّ

## د ستونزې او پرېشانۍ لرې کولو اوراد

## أيها القلب: تهيأ لكشف الكُرَب بالدعاء

## اې زړه: پر دعا د ستونزو لرې کولو دعا ته چمتو شه

أيها المسلم المكروب..

اى د سختيو له کبله پرېشانه مسلمانه ...

اعلم أن الذي قدر عليك الكرب والديون والهموم هو الذي علمك ورد الكرب هذا، لتتقي الكرب قبل حلولها، وترفع بها الكُرَب بعد نزولها، وتزيل بها الهموم والديون بعد استحكامها...

پردې پوه شه کوم ذات چې تاته سختۍ، پوروونه او پرېشانۍ په تقدير کې ليکلي، همغه ذات د ستونزو لرې کولو دا اوراد هم درښودلي، تر څو د ستونزې له راتلو مخکې ترې ځان وساتې، او يا له راتلو وروسته هغه پرې پورته کړې، او په غمونو او پوروونو کې له ګېرېدو وروسته هغه پرې لرې کړې....

فليرددها لسانك الآن، وقلبك هائم في عظمة كلماتها وكمالاتها...

نو دا اوراد اوس پر خپله ژبه زمزمه کړه په داسې حال کې چې ستا زړه د هغو کلماتو په لویۍ او کمال کې ورک وي....

موقنـًا بأن كربتك ليس لها من دون الله كاشفة..

په داسې حال کې چې په دې ښه باوري وې چې ستا ستونزې لره له الله پرته بل څوک لرې کونوکی نشته....

اجمع لها قلبك ولسانك، وقلها ولا تستعظم كربك على الله.

ددې اوراد لپاره خپل زړه او ژبه یو کړه، او د الله پر وړاندې خپله ستونزه لویه مه ګڼه.

قلها، وسيصبح الكرب نسيـًا منسيـًا...

دا اوراد ووایه نو ستونزې به دې داسې ورکې شي چې نښه به یې هم پاتې نشي.

قلها، وانتظر خَلَفَ خيرٍ من كلِّ كربٍ بعدها – بإذن الله –.

دا اوراد ووايه، او له هرې ستونزې وروسته – د الله په امر – د خير انتظار كوه.

اجعل كربك في كفة، واجعل كلمات الله في كفة...

خپل مشكل د تلې په يوه پله كې واچوه او د الله دا كلام په بله پله كې .....

ثم انظر هل من شيءٍ يثقل كلمات الله أو يعجزها.....؟!

بيا وگوره چې د الله له كلام څخه څه شى درووند كيداى شي او هغه لاندې كولاى شي......؟!

## وِرْدُ الكرب والهم...

### د مشکل او پرېشانۍ لرې کولو اوراد

❋ ﴿لَّآ إِلَٰهَ إِلَّآ أَنتَ سُبۡحَٰنَكَ إِنِّي كُنتُ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [الأنبياء: ٨٧].

(له تا پرته بل هيڅوک د عبادت وړمعبود نشته، ستا ذات پاک دی بېشکه له تقصيرکونکو نه وم(ما کمي کړې وه) [الأنبياء: ٨٧].

❋ ﴿رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ﴾ [القصص: ٢١].

(اې زما ربه! ما له ظالمانو وژغوره) [القصص: ٢١].

❋ ﴿رَبِّ ٱنصُرۡنِي عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ﴾ [العنكبوت: ٣٠].

(اې زما پالونکيه! د دغو مفسدانو پر وړاندې زما ملاتړ وکړه.) [العنكبوت: ٣٠].

❋ ﴿حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ﴾ [آل عمران: ١٧٣].

(زمونږ لپاره الله کافي دی، او هماغه ډېر ښه کار جوړونکی دی.) [آل عمران: ١٧٣].

١) «لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ العَظِيمُ الحَلِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ العَرْشِ العَظِيمُ، لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَرَبُّ الأَرْضِ وَرَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمُ».

١- بل د عبادت وړ معبود نشته له هغه الله پرته چې لوی او حلم لرونکی دی، بل د عبادت وړ معبود نشته له الله پرته، چې د لوی عرش څښتن دی، بل د عبادت وړ معبود نشته له الله پرته چې د آسمانونو او ځمکې پالونکی دی، او د عزتمند عرش څښتن (پالونکی) دی.

٢) «اللَّهُمَّ إِنِّي عَبْدُكَ، ابْنُ عَبْدِكَ، ابْنُ أَمَتِكَ، نَاصِيَتِي بِيَدِكَ، مَاضٍ فِيَّ حُكْمُكَ، عَدْلٌ فِيَّ قَضَاؤُكَ، أَسْأَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَ لَكَ، سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ، أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ، أَوْ عَلَّمْتَهُ أَحَداً مِنْ خَلْقِكَ، أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الغَيْبِ عِنْدَكَ، أَنْ تَجْعَلَ القُرْآنَ رَبِيعَ قَلْبِي، وَنُورَ بَصَرِي، وَجَلَاءَ حُزْنِي، وَذَهَابَ هَمِّي».

